الرسالہ

Al-Risala

سپتمبر، ۲۰۲۶ز



خصوصي ګڼه

له وطن سره مينه، د اسلامي فکر په رڼا کې

په دې دنيا کې هره ستونزه د نادانۍ له لاسه پيدا کېږي، او د دانشمندۍ په لاس له منځه وړل کېدی شي.



سپتمبر، ۲۰۲۶ز

مولانا وحیدالدین خان

(د الرساله په ټولو ګڼو کې د قرآن کریم پښتو ژباړه د مولانا فاروق غلجي صاحب له ترجمې رااخیستل شوې ده.)

بسم الله

الرحمن الرحيم

سریزه

له وطن سره مینه یوه ژوره انساني جذبه ده ـــــ داسې جذبه چې د ټولنې، کلتور او جغرافیې له پولو نه لوړه ده. دا جذبه د هغې فطري اړیکې انعکاس دی چې د انسان او د هغه هېواد ترمنځ ټینګېږي چې دی په کې زېږي، روزل کېږي، او د ده شخصیت تشکیل مومي. د خپلوی دغه تعلق یوازې په یوې خاورې پورې نه وي، بلکې د دغې خاورې په خاطرو، ژبې، دودونو او اجتماعي تجربو پورې تعلق لري. له وطن سره مینه مازې یو عاطفي تړون نه دی، بلکې د ښاري شعور او اخلاقي بیداري ښکارندوی هم دی.

له پېړیو، پېړیو نه انسان د خپل شناخت، ځواک او تعلق سرچینه د خپلې زوکړې په ځای کې لټولې ده. له وطن سره د مینې معنا ده، د خپل وطن د ودې او ښېګڼې فکر لرل، د سولې او پرمختګ ارمان یې لرل، او د خپل وطن د راتلونکي په رغونه کې مهم نقش ترسره کول. دغه مینه په خپل ځان کې د تنوع

درناوي، د چاپېريال تحفظ او د عدل او همغږۍ لپاره هلې ځلې رانغاړي.

له وطن سره مينه فقط يوه فطري جذبه نه ده، بلکې په ښه فلسفي او مذهبي روايتونو کې يې تائيد هم ليدل کېږي. مسلمانو علماوو، فقهاوو او صوفياوو دغه مينه يوه روا فطري جذبه منلې ده. مثلاً مشهور فقيه ملا علي قاري (مړينه ۱۶۰۶ز) ليکلي دي: ان حبّ الوطنِ لاينافِي الإيمَان (الاسرار المرفوعة، صفحه ۱۸۱) يانې، د وطن مينه له ايمان سره ټکر نه لري.

د صحيح البخاري شارح ابن بطال (مړينه ۴۴۹هـ) ليکي: اللّه تعالى د انسان په فطرت کې له وطن سره مينه او د وطن عشق کرلى دى ـــــ او نبي صلى اللّه عليه وسلم هم خپل وطن سره مينه کړې. او د رسول اللّه عمل په دې برخه کې بهترينه بېلګه ده. (شرح صحيح البخاري، جلد ۴، صفحه ۴۵۳)

دا خبره سمه ده چې له قرآن او حديث څخه مستقيم داسې حکم په لاس نه راځي چې له وطن سره بايد مينه وکړو، خو نامستقيم ګڼ داسې حکمونه ثابت دي،

چې له وطن سره د مینې اهمیت په ډاګه کوي. امام ذهبي په خپل کتاب کې د هغو شیانو فهرست راوړی دی چې نبي صلی اللّه علیه وسلم ورسره مینه لرله. له هغو نه یو دا هم دی چې رسول اللّه له خپل وطن سره هم مینه کوله: وَيُحبُّ وَطَنهُ (سیر اعلام النبلاء، جلد ۱۵، صفحه ۳۹۴)

د حدیث په کتابونو کې یوه مسنونه دعا په دې ټکو کې راغلې ده: اللهم حبب إلينا المدينة كَحُبَّتَنا مَكَّة أو أشد (صحیح بخاری، حدیث ۱۸۸۹؛ صحیح مسلم، حدیث ۱۳۷۶) یانې، اې اللّه! مور ته له مدینې سره هم د مکې په څېر مینه راپېرزو کړه.

په دې حدیث کې ګواکې دې خبرې ته اشاره ده چې هر انسان باید د خپلې زوکړې او کار له ځای سره د مینې دعا وکړي. دغه راز د حدیثو په کتابونو کې راځي چې کله به نبي کریم صلی اللّه علیه وسلم له سفره بېرته راستنېده او د مدینې دېوالونه به یې ولیدل نو د مینې له امله به یې (مِن حُبِّها) خپله سورلۍ تېزه کړه. (صحیح بخاری، حدیث ۱۸۸۶) یوازې له وطن سره نه، بلکې

په وطن پورې اړوندو شیانو سره هم باید مینه وشي. مثلا د احد غر د مدینې د طبیعي سپر او ډال حیثیت درلود، رسول اللّه د احد غره په اړه وفرمایل: هذا جبلٌ یُحِبنا ونحبه (صحیح البخاری، حدیث ۲۸۸۹) یانې، په دې غره مونږ ګران یو او دا غر په مونږ ګران دی.

د پیغمبر صلی اللّه علیه وسلم دغه احادیث په وطن پورې ټرلي احساسات او اخلاقي ارزښتونه راته بیانوي. د حدیثو شارحینو هم د دې احادیثو په اهمیت باندې زور اچولی چې دغه احادیث له وطن سره د مینې او تعلق په رواوالي دلیل دي. (عمدة القاری للعینی، جلد ۱۰، صفحه ۱۳۵؛ فتح الباری لابن حجر، جلد ۳، صفحه ۲۲۱) د برصغیر مشهور محدث او فقیه مولانا زکریا کاندهلوي (۱۹۸۲ - ۱۸۹۸) دا ټکی لا ډېر روښانه کړی دی چې «له مدینې نه ماسوا همدغه حکم د هغو ټولو ښارونو، سیمو او هېوادونو په باره کې هم دی چې د سړي ورته تمایل وي او ورته ګران وي» کذلک الحکم في غیر المدینة من الدیار المرغوبة فیها، والأوطان المحببة فیها (اللامع الدراری، جلد ۵، صفحه ۲۷۹)

د اسلامي تاريخ مطالعه راته ښيي چې داسې نه ده چې دغه لړۍ دې له پيغمبر عليه السلام نه وروسته درېدلې وي، بلکې راوروسته وختونو کې د ګڼ شمېر علماوو، صوفياوو او شاعرانو په ليکنو کې هم د دې جذبې انګازې ليدل کېږي. مثلاً د اسلامي تاريخ مشهور زاهد او صوفي بزرګ ابراهيم بن ادهم (مړينه ۱۶۰ هـ) نه منقول دي چې:

ماقاسيت فيماترکتُ شيئاً أشدعليّ من مفارقة الأوطان (حلية الاولياء، جلد ۷، صفحه ۳۸۰)

ژباړه: ما چې له کومو شيانو سره مخه ښه کړې، له هغو نه د يوه شي درد هم له وطن نه د بېلتون د درد هومره شديد نه و.

علامه راغب اصفهاني د پنځمې هجري پېړۍ (يوولسمې ميلادي پېړۍ) مشهور عالم، مفسر او د عربي ژبې ماهر و. نومورې په خپل کتاب محاضرات الأدباء (جلددوم، صفحه ۶۵۲) کې د وطن د مينې په موضوع دوه عنوانونه راوړي دي. په دې کتاب کې له وطن سره په مينې پورې يو بامعنا قول دا دی: حبُّ الوطن من طيب المولِدِ

(له وطن سره مینه د نېک فطرته انسان ځانګړنه ده.)

دغه راز یو بل قول دا دی: لولا حُبُّ الوطَنِ لخَرَبَت بلادالسوء

(که له وطن سره د مینې جذبه نه وای، نو ورانکاري هېوادونه به ویجاړ شوي وای.)

په اسلامي لټریچر کې په دې اړوند ګڼ شمېر دلایل دا حقیقت خورا څرګند په ګوته کوي چې له وطن سره مینه یوه فطري جذبه ده، د ایمان منافي نه ده، بلکې پخپله له اخلاقي قدرونو څخه ده. دغه ویناوې د دې خبرې سپیناوی کوي چې د یوه انسان له خپل وطن سره مینه تنګنظري یا تعصب نه دی، بلکې د انساني اخلاقو او فطرت یو مهم جزء دی. دا به د اخلاقو خلاف خبره وي چې هغه خاوره چې تاسې ته یې هر څه درکړي وي، تاسې ورسره هېڅ اُنس او تعلق ونه لرئ.

رښتینې حُب الوطني یو متحد کوونکی ځواک دی، درز اچوونکی ځواک نه دی. له دین سره ټکر نه لري، بلکې د دین د تقویې ذریعه ده. د الرساله په دې ګڼه کې د مولانا وحیدالدین خان لیکنې راټولې شوې دي. په دې پاڼو کې به لوستونکی له وطن سره د مینې یوه

نوې زاویه ومومي. یانې دا چې له اخلاص، اخلاقو، مثبت فکر طرز او رغنیزو فعالیتونو سره د وطن مینه، د یوې بهترې نړۍ د جوړولو مؤثره لاره ده. اللّه تعالی نه دعا غواړو چې دې ګڼې ته بریا ور په برخه کړي، او د لیکوال لپاره یې تلپاتې صدقه وګرځوي، آمین.

ډاکټر فریده خانم، نوې ډېلې

★

له وطن سره مينه يو فطري حقيقت

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه يو ځل وفرمايل چې خداى هېوادونه د خُب الوطني په مټ اباد ساتلي دي: **عمر الله البلدان بحب الأوطان (التذكرة لابن حمدون البغدادی، اثر ۴۰۷)**

په دې وينا کې يو فطري حقيقت بيان شوى دى. دا د انسان په فطرت کې اغږلې ده چې له خپل وطن سره دې مينه ولري. د همدې مينې په زور کلي او ښارونه ابادېږي. که اوس دا حقيقت مخې ته کېښودل شي چې دغه فطرت پخپله خداى پنځولى دى، نو د وطن مينه به يو ايماني صفت معلوم شي، ځکه ايمان د انساني فطرت انعکاس دى. **حبُّ الوطنِ مِنَ الإيمَانِ** (وطن سره مينه د ايمان برخه ده) سره له دې چې دا د رسول الله حديث نه دى. خو زه فکر کوم چې په دې کې چې کومه خبره شوې ده، هغه پخپل ځان کې سمه خبره ده.

د رسول الله له وطن سره مينه

د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم چې له مکې نه مدينې ته هجرت ته اړ کړاى شو نو په دې وخت کې يې د مکې خواته وکتل او ويې فرمايل: **والله انک لخير أرض الله، وأحب أرض الله الى، والله لو لا أني أخرجت منک، ما خرجتُ (سنن ابن ماجه، حديث ۳۱۰۸)**

ژباړه: اې مکې! ته په دنيا کې تر ټولو ډېره راته گرانه يې، خو ستا اوسېدونکي مې دلته ژوند ته نه پرېږدي.

وروسته چې مکه فتحه شوه، نـو د رسـول الله لپـاره پـوره فرصـت و چـې بېرته مکه د خپلې استوګنې لپاره غوره کړي. خو رسول الله بېرته مدينې ته ستون شو او د ژوند تر پايه همالته پاتې شو. ان له وفات نـه وروسـته قـبر يې هم په مدينه کې جوړ کړای شو.

له دې نه معلومه شوه چې د مکې په باره کې د رسول الله پاسنۍ جملـه د شرعي نوعيت جمله نه وه. که يـې شرعـي حيثيـت لرلـی، نـو لـه فتحـې وروسته به يې خامخا په مکه کې استوګنه کولـه. خـو پـه مکـې باندې لـه ولکې سره، سره د رسـول الله بېرتـه مـدينې تـه سـتنېدا دا ثـابتوي چـې دا شرعي جمله نه وه، بلکې د وطنۍ مينې له جذبې نه ويل شوې جمله وه.

عموما داسې خيال کېږي چـې د رسـول الله دا وينـا د دې لپـاره وه چـې مکه يو مقدس ښار دی، خو زه فکر کوم چې د رسول الله دا خبره د وطـن د جذبې له مخې وه. دا د هماغې جذبې اظهار و چې په هر انسان کـې د خپل وطن د پرېښودو په وخت کې پيدا کېږي. په وروسـته زمـانو کـې پـه مسلمانانو کې نعت‌خواني رواج شوه. په دې نعتونو کـې همېشـه د مـدينې عظمت بيانېږي. ما هېڅ کله نه دي ليدلي چې پـه دې نعتونـو کـې دې د مکې عظمت بيان شوی وي. که مکه په مطلقه معنا مقدس ښار وای، نـو په دې نعتونو کې بايد د مکې تعريف کېدلی، نه د مدينې.

نیشنلیزم او حبُ الوطني

د ۱۹۷۱ کال د لومړۍ نیمې واقعه ده. ما په ریل‌ګاډي کې پاکستان ته سفر وکړ. له هندوستاني سرحد نه چې تېر شوم او بلې خواته ورسېدم، نو پنډچي یوه پوځي افسر ته په اشاره وویل چې مېجر صاحب تاسې غواړي. پنډچي زه پوځي خېمې ته ور وستم. یو پاکستانی افسر ناست و. په خېمه کې یوازې موږ دوه تنه وو. دا د هغه وخت خبره ده چې د بنګله دېش د جګړې چمتووالی نیول کېده، او له دې امله د هند او پاکستان په اړیکو کې ډېر زیات کړکېچ پیدا شوی و.

په خېمه کې پاکستاني پوځي افسر له ماسره داسې خبرې اترې پیل کړې چې زما په نزد د هندوستان د ملي ګټو خلاف وې. مثلاً په یونیفورم کې ناست پوځي افسر رانه وغوښتل چې د هندوستان ځینې نظامي رازونه ورته وښیم. تر یو څو شېبو پورې مې د هغه خبرو ته په سړه سینه غوږ نیولی و. بیا مې ورته وویل، مېجر صاحب، تاسې په دې فکر له ماسره خبرې وکړئ چې زه د هندوستان یو وفادار وګړی دی. بیا مې شاوخوا پنځلس دقیقې په ډېر سخت لحن کې د هغه په وړاندې خبرې وکړې. زه پوهېدم چې که دی مې په مرمۍ هم وولي، نو هېڅ څوک به مې ونه شي ژغورلی. خو د حالاتو د نزاکت مې هېڅ پروا ونه کړه او هر هغه څه مې ورته وویل چې د یوه هندوستاني ښاري په حیث مې ورته ویلی شوی.

له یاد پوځي مېجر سره مې چې کومې خبرې وکړې، له هغو نه یوه دا خبره هم وه چې که له هندوستان سره ستاسې د جګړې تکیه زمونږ په ځېر خلکو نه د نظامي رازونو په ترلاسي باندې وي، نو بیا مو په رښتیا جګړه ګټلې ده! ځکه په اوسنۍ زمانه کې جنګي راز دومره ټاپ سیکرټ (top secret) وي، چې ځینې وختونه د دفاع وزیر هم ورنه خبر نه وي. شاوخوا نیم ساعت مې همدغه ډول خبرې وکړې. او بیا له سلام او معذرت نه بغیر له خپې راووتم. نومورې مېجر په پوره چوپتیا زما خبرو ته غوږ نیولی و. زه چې دباندې راووتم، نو هغه هم په ماپسې راغی او ویې ویل: مولانا صاحب، مونږ ستاسې په ځېر خلکو ته ضرورت لرو.

ما دا خبره د پاکستان په خاوره کې په پوځي خپه کې هغه وخت وکړه چې که هغه پوځي افسر په مرمۍ هم ویشتلی وای، نو شاید زما مرګ به داسې پېښ شوی و چې څوک به خبر هم نه و.

په هغه شېبه کې چې ما د پاکستان له پوځي افسر سره دا خبرې وکړې، زما مذهب، زما لباس، زما ژبه، زما کورنۍ روایات، ټول له یوه عام هندو نه مختلف وو. خو د ملي احساس له مخې په هغه شېبه کې زما احساس کټ مټ هماغه و چې د یوه هندو وطن‌دوست احساس کېدی شي.

زما د ژوند له سلګونو واقعاتو څخه دا یوازې څو واقعات دي چې دا ورنه څرګندېږي چې زه له خپل وطن سره څومره مینه لرم. هغه هندوان چې ما له نیږدې پېژني، مثلاً سوامي اوم پورن سوتنترا (نوې ډېلي) یا سوامي

چیدانند (رشي کیش) او داسې نور، هغوی وایي چې په تاسې کې چې کومه هېوادپالنه ده، د هغې مثال مورِ له مهاتما ګاندي وروسته په بل هېڅ وګړي کې نه دی لیدلی. زما د زړه همدا درد دی چې ما دا پاس غوندې خبرو ته مجبوروي.

د همدې نوعیت یوه بله واقعه دا ده چې په ۲۰ جنوري ۱۹۹۷ کې د نوې ډېلۍ په پانیر هاؤس کې یوه غونډه وه. په غونډه کې د ښار تعلیم‌یافته خلک راټول وو. د غونډې موضوع وه ـــــــ آیا ګاندي به د نن ورځې په انډیا کې بریالی و. ما هم په دې غونډه کې اوږده وینا وکړه. په دې اړوند ما ورته وویل چې ګاندي د پرون ورځې په انډیا کې هم نه دی بریالی شوی تر دې چې په ۱۹۴۷ کې یې پخپله خوله وویل چې: اوس به څوک زما اوري؟ نو ګاندي چې په پرونۍ انډیا کې بریالی نه شو نو په ننني هندوستان کې به څنګه بریالی شوی و. یوه هندوستاني پروفیسر- زما په خبره په لږ تریو تندي وویل چې تاسې په مهاتما ګاندي تنقید کوئ. په دې خبره مې زړه درد وکړ. له سترګو مې اوښکې راغلې او په دردمنه ژبه مې وویل:

I love Gandhi, but I love India more than Gandhi.

زما په دې خبره پروفیسر صاحب غلی شو. له هغه وروسته هیڅا هم زما د تنقیدي وینا په باره کې څه ونه ویل. زما دغه وینا بشپړه د انګریزي اخبار پانیر (نوې ډېلۍ) په ۲۶ جنوري ۱۹۹۷ ګڼه کې خپره شوې ده.

زما په ځینو تنقیدونو یوه تعلیم یافته هندو وویل چې تاسې زمور په ملي رهبرانو دومره سختې ګوتځنډنې کوئ. اخر تاسې ته چا د دې کار حق درکړی دی؟ ځواب مې ورکړ چې خپلې هېوادپالنې (حبُ الوطني) دا حق راکړی دی. په دې خبره نوموړی غلی شو.

حبُ الوطني

په انډیا انټرنېشنل سنټر (نوې ډېلۍ) کې سیمینار و. د سیمینار چارې د اردو اکاډمي له لوري تنظیم شوې وې. د سیمینار موضوع د مولانا ابوالکلام ازاد د شخصیت او کارنامو ارزونه وه. په دې ځای کې ما هم وینا وکړه، زما په خبرو کې یوه نکته د حبُ الوطني مسئله هم وه.

ما وویل چې په شلمه پېړۍ کې تر اوږدې مودې پورې مسلمان مفکرین په یو نه یو ډول له هغې نظریې نه متاثر و، چې عموما پان اسلامیزم (pan Islamism) ورته ویل کېږي. په دې نظریه کې د اوسني عصر ډېر زیات مفکرین شامل و. مثلاً سید جمال الدین افغاني (۱۸۹۷-۱۸۳۸)، محمد اقبال (۱۸۷۷- ۱۹۳۸)، محمد علي جناح (۱۸۷٦-۱۹۴۸)، سید ابوالاعلی مودودي (۱۹۰۳- ۱۹۷۹) او داسې نور. دې خلکو مسلمانان یوه نړیواله ټولنه ګڼل او مسلمانان به یې د نړیوال قومیت د یوه غړي په حیث په ګوته کول. د خپلې دې نظریې له مخې د دوی فکر دا و چې د قومیت (nationhood) بنیاد په مذهب باندې ولاړ دی، نه په وطن.

ما وویل چې زما عمر د هجري کلیزې له مخې ۷۸ کلو ته نیږدې شوی دی. ما د خپل ژوند لویه برخه د اسلام او اسلام پورې اړوند علومو په مطالعه کې تېره کړې ده. زه په پوره اعتماد ویلی شم چې د قومیت بنیاد مذهب ګڼل هېڅ اسلامي نظریه نه ده. او سراسر یوه سیاسي نظریه ده چې په خاصو حالاتو کې یې سر راپورته کړ. د شلمې پېړۍ په اولنۍ نیمه کې د مسلمانانو سیاسي رهبرانو غوښتل چې د ټولې دنیا مسلمانان د اروپایي استعمار په ضد وپاروي. خپل همدې سیاسي هدف ته د فکري جواز لپاره هغوی د نړیوال قومیت پاسنۍ نظریه وړاندې کړه. دا په اصل کې د اسلام سیاسي استحصال و، نه د اسلام ربښتینې څېره.

په دې برخه کې د اسلام لیدلوری هماغه دی چې د سیاسي علومو لیدلوری دی، او ټولې دنیا له نظري یا عملي پلوه منلی دی. هغه دا چې د قومیت بنیاد په وطن باندې بنا دی. همدا وجه ده چې په ټوله دنیا کې په پاسپورټ باندې د یوه شخص قومیت (nationality) هماغه لیکل کېږي چې د وطن له نسبت نه د ده قومیت وي، او دا فرق نه کوي چې دی له یوه مذهب څخه دی یا له بل مذهب څخه. مثلاً په انډیا کې هر مسلمانان یا نامسلمان په پاسپورټ کې خپل ځان ته انډین لیکي، په بریتانیا کې بریټش، او په امریکا کې امریکن او داسې نور.

په وطن ولاړه د قومیت نظریه سوچه د اسلام مطابق نظریه ده. په دې برخه کې په اسلام او نوره دنیا کې هېڅ اختلاف یا ټکر نشته. مولانا سید حسین احمد مدني ویلي و چې په اوسنۍ زمانه کې قومونه له وطنونو څخه

جوړېږي. ځينو خلکو هڅه وکړه چې د هغه په دې خبره کې دا ور زيات کړي، چې د مولانا مدني دغه څرګندونه خبري جمله ده، انشائيه جمله نه ده. يانې دا يو واقعيت دی چې په نوره دنيا کې وطن د قوميت بنياد منل شوی دی خو د دې معنا دا نه ده چې په اسلام کې هم د قوميت بنياد په وطن باندې ايښودل شوی دی. خو دا تشريح يې سمه نه ده. په دې تړاو زه غواړم دلته يو څو خبرې وکړم. د فقهې يو دايمي اصول دا دی چې شيان د خپل اصل (بنيادي حکم له مخې) مباح دي (**الأصل في الأشياء الاباحة**)، تر هغو چې د حرمت لپاره يې دليل پيدا نه شي.

Everything is lawful unless it is declared unlawful.

دلته له شي نه مراد دنيوي چارې دي. دا يوه واضحه خبره ده چې د قوميت د مسئلې په باره کې په قرآن او حديث کې کوم صريح امر نه دی راغلی. په قرآن او حديث کې دا نه دي ويل شوي چې د قوميت بنياد په مذهب بنا دی، او نه دا چې بنياد يې وطن دی. د همدې لپاره به دا مسئله په هغو چارو پورې اړوند ګڼل کېږي، چې رسول الله يې په اړه فرمايلي دي: **أنتم أعلمُ بأمرِ دُنياكُم** (**صحيح مسلم، حديث ۲۳۶۳**) يانې، تاسې د خپلې دنيا په چارو بهتر پوهېږئ.

د دې معنا دا ده چې د عقيدې او عبادت او اخرت په چارو کې خو مسلمانان پابند دي چې د شريعت لارښوونې له تأويل پرته ومني، خو هغه چارې چې د دنيا په سمبالښت پورې تړلې وي، په هغو کې انسان اختيار

لري چې د خپلو حالاتو له مخې هره تګلاره چې سمه ګڼي، هغه غوره کړي.

په دې مسئله باندې یوه نبوي پېښه لا ډېره رڼا اچوي. د پیغمبر علیه السلام په زمانه کې د یمن یوه شخص د نبوت دعوا وکړه چې نوم یې مسیلمه و. هغه د دوو کسانو سفارتي پلاوی مدینې ته راواستوه. هغوی مدینې ته راغلل او د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یې ملاقات وکړ، او د نبوت د مدعي دا لیکلی پیغام یې ورته ورساوه چې زه په نبوت کې له تاسې سره شریک کړای شوی یم (**فاني قد أُشرِكتُ في الأمرِ مَعَک**).

د مسیلمه له دواړو سفیرانو سره له خبرو وروسته رسول الله له هغوی نه وپوښتل چې په دې باره کې ستاسې څه نظر دی. هغوی وویل چې زمونږ هم هماغه نظر دی چې زمونږ د مشر نظر دی. په دې خبره رسول الله وفرمایل په خدای قسم که داسې نه وای چې سفیران نه وژل کېږي، نو تاسې دواړه به مې وژلي وای: **أما والله لو لا أنّ الرسُلَ لا يُقتلُ لضربت أعناقكما** (**سیرت ابن هشام، جلد ۲، صفحه ۶۰۰**)

د پیغمبر علیه السلام په دې پېښه کې د اسلام یو اصول په لاس راځي. هغه دا چې په نړیوالو چارو کې به د شریعت طریقه هم هماغه وي، چې د نورو قومونو طریقه ده. که په نورو قومونو کې د سفیر ژوند په هر حال کې هم محترم ګڼل کېږي، نو په اسلام کې به هم په هر حال کې محترم ګڼل کېږي. په همدې یې چې قیاس کړو، نو دا خبره هم سمه ده چې د

قومیت په معامله کې چې په دنیا کې کوم اصول بالعموم منل شوی، په شریعت کې به هماغه اصول ته غاړه ایښودل کېږي. دا چاره به بې ضرورته د عقیدې او مذهب مسئله نه ګرځول کېږي.

یو ځل ما په یوه غونډه کې ګډون درلود. په غونډه کې یوه شخص په خپله وینا کې له وطن سره د مینې اهمیت بیان کړ او ویې ویل چې په اسلام کې هم د دې مینې اهمیت منل شوی دی. همدا ده چې په حدیث کې راغلي دي: **حبُّ الوطنِ من الایمانِ** (**الموضوعات للصغانی، حدیث ۸۱**) یانې، له وطن سره مینه کول د ایمان برخه ده. یو دیني عالم چې په غونډه کې ناست و، هغه یې خبره ور رد کړ او ویې ویل چې **حب الوطن من الایمان** حدیث نه دی، مازې یوه عربي مقوله ده.

ما وویل چې دا خبره سمه ده چې **حب الوطن من الایمان** حدیث نه دی، مګر مازې یوه ساده عربي مقوله هم نه ده، بلکې د فطرت مقوله ده، چې د انسان د درون عکاسي کوي. محدثین بالعموم دا وینا د رسول الله حدیث نه ګڼي، او ضعیف یا موضوع یې بولي. خو ځینو علماوو د دې وینا معنوي اعتبار سم ګڼلی دی. مثلاً د اتمې هجري پېړۍ مشهور عالم محمد بن عبدالرحمن السخاوي (مړینه ۱۴۹۷ز) د دې وینا په باره کې لیکلي دي: **لم أقِف علیه، ومعناهُ صحیح** (**المقاصد الحسنة، حدیث ۳۸۶**) یانې، زه دا حدیث نه پېژنم، خو مفهوم یې سم دی. د محدثینو د اصولو له مخې، د امام السخاوي د دې وینا مطلب دا دی چې ده دا وینا د حدیث په حیث چېرته نه ده موندلې، خو په اسلام کې یې اصل موندل کېږي. د

کتابونو په ذخیره کې بې شمېره داسې شیان شته ، چې د رسول الله احادیث به نه وي، خو د فطرت احادیث خامخا دي. د دې خبرې د وضاحت لپاره محدثینو هغه اصول جوړ کړی دی چې پاس د السخاوي په حواله بیان شوی دی.

لیکوال په دې نظر دی چې دا وینا که د کلامِ رسول په حیث ثابته هم نه وي، په هغه صورت کې هم دا وینا حدیثِ فطرت ده. هغه انسان چې د وطن مینه د فطرت برخه نه ګڼي، هغه هېڅ په دې نه پوهېږي چې فطرت څه دی؟ حقیقت دا دی چې له وطن سره مینه د انساني فطرت یوه لازمي تقاضا ده، او د فطرت همدا تقاضا د دې خبرې لپاره کافي ده چې حبُ الوطني (patriotism) د اسلام یوه برخه وګڼل شي. اسلام چې د فطرت دین (religion of nature) دی، نو د بشري فطرت هر شی به د اسلام برخه ګرځي.

بیا مې زیاته کړه چې اسلام د فطرت دین دی، د همدې لپاره د انساني فطرت هره سمه تقاضا هم پخپله د اسلام تقاضا ده. مثلاً په حدیث کې هېڅ ځای دا نه دي راغلي چې **حبُ الأمِن الایمان** (د مور مینه د ایمان برخه ده). خو په دې سربېره دا حقیقت دی چې هر مسلمان په ځان فرض ګڼي چې په زړه کې یې له مور سره مینه وي. هغه انسان چې په زړه کې یې د مور مینه نه وي، هغه به په خپل ایمان کې هم بشپړ نه وي، ځکه په فطرت او ایمان کې هېڅ تضاد نشته.

دغه راز له وطن سره مينه هم بې له شکه د هر مسلمان لپاره د ايماني تقاضا حيثيت لري. دا يو حقيقت دی چې انسان په کوم هېواد کې زېږېدلی وي، روزنه يې ليدلې وي، د هغه هېواد په هوا کې يې ساه اخيستې وي، له خلکو يې سره يې تعلقات جوړ کړي وي، خپل ژوند يې په کې ساز کړی وي، له داسې هېواد سره مينه کول د انساني شرافت تقاضا هم ده، او د انسان د ايمان او اسلام تقاضا هم.

بيا مې وويل چې يو څه چې د انساني فطرت برخه وي، نو په قرآن او حديث کې يې ليکلو ته ضرورت نشته، هغه په قرآن او حديث کې بې له ليکلو هم د شريعت يوه لازمي برخه ده. په قرآن او حديث کې دا حکم نه دی راغلی چې اې مسلمانانو! له خپلې مور سره مينه وکړئ. ځکه دا شی له حکم پرته د خپل فطرت په زور بنده ته حاصل و. په همدې ډول په قرآن کريم کې دې خبرې ته هم اړتيا نشته چې اې مسلمانانو، له خپل وطن سره مينه وکړئ. ځکه له وطن سره مينه د انساني شرافت تقاضا ده، هغه انسان يو پست انسان دی چې په زړه کې يې د خپل وطن لپاره مينه نه وي. د داسې ژورې فطري تقاضا لپاره په شريعت کې لفظي حکم ته اړتيا نشته، بلکې پخپله د هر مؤمن په زړه کې له مخکې څخه موجود وي.

دلته د يوې بلې مسئلې وضاحت هم اړين دی. ځينې افراط‌ګرا هندو مشرانو ليکلي دي چې د هندوستان عيسويان او مسلمانان رښتيني هېواددوسته نه شي کېدی. ځکه د هېواددوستي لپاره اړينه ده چې هغه

وطن یا جغرافیه انسان سپښلې وګڼي، چې دی په کې نړۍ ته راغلی وي. دا چې هندوان خپل وطن (مور وطن) سپښلی ګڼي او د معبود درجه ورکوي، د همدې لپاره یوازې هندو د بهارت رښتینی محبِ وطن (هېواد دوست) دی. دا چې عیسویان او مسلمانان د خپلې مخصوصې عقیدې له مخې مځکه یا مځکنۍ ټوټه د معبود په څېر مقدسه نه مني، د همدې لپاره دوی د اندیا رښتیني هېوادپال هم نه شي کېدی.

دا یوه بې بنیاده خبره ده. که یو شخص د خپلې خودساخته عقیدې له مخې خپله مور معبود وګڼي، او د هغه په پرستش لاس پورې کړي، نو له دې لارې دی د دې خبرې جواز نه مومي چې بې له ده نور خلک له خپلې مور سره مینه نه لري، ځکه هغوی خپلې مور ته د معبود په سترګه نه ګوري. یو شخص یا ډله دا ازادي لري چې خپلې مور یا خپل وطن ته د معبود په سترګه وګوري، خو د هېڅ قانون یا اصول له مخې دغسې خلکو ته دا حق نه شي ورکول کېدی چې هغوی دې د نورو په باره کې دا قضاوت وکړي چې خپله مور یا خپل وطن معبود وګڼي، که نه وي، نه دوی له خپلې مور سره مینه لري، نه له خپل وطن سره.

حقیقت دا دی چې دغه ډول مسایل په نړیواله کچه منل شوي دستور پورې تعلق لري، نه د یوه شخص یا ډلې په خپلې مفروضې پورې. په نړیواله کچه چې دا خبره منل شوې ده چې د قومیت بنیاد په وطن باندې بنا دی، او له وطن نه مراد په مشهوره معنا جغرافیوي وحدت (geographical unity) دی، نه په پُر اسراره معنا مذهبي تقدس

(religious unity). نو ځکه د حبُ الوطني (patriotism) معيار به د هر چا لپاره همدا وي. البته هر شخص دا ازادي لري چې له دې نه علاوه يې کومه عقيده خوښه وي، هغه د ځان لپاره غوره کړي.

د مسلمانانو قوميت

له ازادي نه مخکې د هند په نيمه وچه کې د قوميت د مسئلې اړوند دوه نظرونه وو. يو د اقبال نظر و. هغه ويل چې د قوميت تعلق په مذهب پورې دی. بله نظريه د مولانا حسين احمد مدني وه. هغه وويل چې په اوسنۍ زمانه کې قومونه له وطنونو څخه جوړېږي. يانې د عقيدې تعلق له مذهب سره دی او د قوميت تعلق له وطن سره. زما په نزد د مولانا حسين احمد مدني نظريه سمه وه. زه په دې نظر يم چې د مذهب له مخې د ټولې دنيا د مسلمانانو مذهب يو دی، خو د قوميت په برخه کې د دوی تعلق په وطن (homeland) پورې دی، يانې هره مسلمانه ډله چې کوم وطن لري، هماغه يې قوميت هم دی.

د دې معنا دا ده چې د هندوستان په څېر هېواد باندې که يو مسلمان هېواد بريد وکړي، نو دا بريد به د مسلمانانو په مذهب باندې بريد نه وي بلکې د هغوی په مشترک وطن باندې ترسره شوی بريد به ګڼل کېږي. د وطن په خلاف د تجاوز په برخه کې به مسلمانان هم هماغسې د وطن دفاع کوي لکه د وطن نامسلمان وروڼه يې چې کوي، پروا نه کوي چې په ظاهره دا بريد مسلمان هېواد کړی يا نامسلمان هېواد.

یو غیرحقیقي فکر

د علامه اقبال یو نظم دی، چې عنوان یې دی: وطنیت. په هغه کې دی وایي:

تہذیب کے آزر نے ترشوائے صنم اور

ژباړه: د نوي تمدن آزر نوي، نوي بتان وتراشل.

او بیا یې بل شعر دا دی:

ان تازہ خداؤں میں بڑا سب سے وطن ھے
جو پیرہن اس کا ھے، وہ مذھب کا کفن ھے

ژباړه: په دې نویو خدایانو کې تر ټولو لوی وطن دی او د ده په غاړه چې کوم کمیس دی، ، هغه په اصل کې د مذهب کفن دی.

دغه نظم د اقبال د کلیاتو په بانګِ درا کې راغلی دی. د اقبال پاسنی شعر د اسلام له لارښوونو سره هېڅ تعلق نه لري. په اوسنۍ دنیا کې قومیت، وطن‌محوره (homeland based) پدیده ګڼل کېږي. زما په نزد په دې تصور کې او په اسلام کې هېڅ ټکر نشته، خو د اقبال په ذهن کې د اسلام هغه تاریخي تصور ناست و، چې وروسته د اسلامي امپراتورۍ په زمانه کې ورغېده. د اسلامي امپراتورۍ په زمانه کې د ټولو مسلمانانو وطن یو ګڼل کېده، خو له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته چې اسلامي امپراتورۍ ماته شوه او له پنځوسو نه ډېر ببل، ببل هېوادونه جوړ شوو نو

له هغه وروسته به د مسلمانانو قوميت د هغوی د اوسنيو هېوادونو له مخې ټاکل کېږي. په دې برخه کې د اسلامي امپراتورۍ زمانه هېڅ معيار نه دی، پخوانۍ اسلامي امپراتورۍ د مسلمانانو د سياسي تاريخ يوه لنډمهالې پديده وه، د اسلام دايمي برخه نه وه.

د قوميت بنياد وطن

ډاکټر مبارک علي د پاکستان لوړ تعليم‌يافته شخص دی. نوموړي په يوه مرکه کې وويل چې نن ورځ چې د اسلامي امت کلمه په کومه نړيواله معنا کې کارېږي، هغه له دې نه مخکې په هېڅ اسلامي دور کې هم نه وه. رښتيا خبره خو دا ده چې اسلامي امت يوه مفروضه ده چې نه يې پخوا کوم حقيقي تصور و، نه يې اوس شته. د مسلمانانو چې کوم ستر سلطنتونه تېر شوي دي، د هغو په باره کې هم مختلفې خبرې دي، مثلاً د عثماني امپراتورۍ په وخت کې ارمينيا يو ېېل ملت و او د ملت کلمه به ورته کارېدله او د ملت کلمه بالعموم د وړو قومونو لپاره کارېدلې ده. په مسلمانانو کې د ملي دولتونو وجود له ډېر پخوا څخه پاتې شوی دی. د ټولو اسلامي قومونو شناخت جلا، جلا د سيمه‌ييزو ژبو په بنياد يا د توکميزو بنيادونو له مخې رغېدلی و. ځکه اسلام مذهب دی، قوم نه دی. د مدينې په ټرون کې دا ټکی ډېر واضح ليدل کېدی شي، په دې ټرون کې يهود هم په اسلامي امت کې شامل و. د ملت اوسنی تصور د وخت او حالاتو له مخې رغېدلی دی. نو زما په نظر زمورږ نړيوال معاملات او تعلقات بايد د انساني بنسټونو له مخې استوار شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله له مکې نه مدینې ته هجرت وکړ او لومړنی اسلامي دولت یې جوړ کړ، نو هلته ځینې یهودي قبیلې هم مېشتې وې، په دې وخت کې رسول الله یوه اعلامیه صادره کړه چې عموما د مدینې میثاق ورته ویل کېږي. په دې میثاق کې رسول الله یوه دا خبره هم لیکلې وه چې یهود له مسلمانانو سره یو امت دي: **وان یهودَ بني عوف أمةٌ مع المؤمنین (سیرت ابن هشام، جلد ۱، صفحه ۵۰۳)** یانې، او دا چې د بنو عوف یهود له مسلمانانو سره یو امت دي. حقیقت دا دی چې د قومیت بنیاد همېشه وطن وي، نه مذهب.

په دې جمله کې د امت کلمه تقریباً په هماغه معنا کې ده چې نن ورځ د قوم (nation) کلمه ویل کېږي. یانې د مدیني یهود او د مدینې مسلمانان چې په یوه وطن کې مېشت دي، دواړه یو قوم دي، دواړه په یوه قوم پورې تعلق لري. دغه اصول چې په اندیا پلي شي، نو دا ویل به په ځای وي چې دلته هندوان او مسلمانان دواړه یو امت یا یو قوم دي. د دواړو قومیت (nationhood) یو دی. همدغه معامله د هغو هېوادونو ده چې مسلمانان په کې له نامسلمانانو سره ګډ اوسي.

قوم او قومیت

له قرآن کریم نه معلومېږي چې هر پیغمبر خپلو نامؤمنو مخاطبینو ته په اې زما قومه (**یَاقَومِ**) لفظ سره خطاب کړی دی (د مثال لپاره د قرآن کریم دا آیتونه مطالعه کړئ: ٦١، ٦٧، ٧٩، ٨٥ :٧) د دې قرآني بیان مطابق، د

مؤمن او نامؤمن دواړو قومیت (nationality) یو دی. حقیقت دا دی چې د قومیت تعلق په مذهب پورې نه دی، په وطن پورې دی. د مذهبي اشتراک د بیانولو لپاره به د ملت ټکی ویل کېږي (النساء، ۴:۱۲۵)، او د وطني اشتراک لپاره د قومیت ټکی (هود، ۱۱:۸۹). په اوسنۍ زمانه کې وطن (homeland) د قومیت بنیاد ګڼل کېږي. د اسلام اصول هم همدا دی. د اسلام مطابق هم پخپله وطن د قومیت بنیاد دی.

له دې پلوه دوه قومي نظریه یوه غیراسلامي نظریه ده. دوه قومي نظریه په مسلمانانو کې دا ذهنیت پیدا کوي چې مورږ ټبل قوم یو او نور خلک ټبل قوم. حال دا چې دُرست اسلامي فکر دا دی چې مسلمانان خپل ځان له نورو سره هم‌قوم وګڼي، او نورو ته باید په اې زما د قوم خلکو باندې خطاب وکولی شي، لکه ټولو پیغمبرانو چې کړی دی. په قرآن کې راغلي دي: اې خلکو! مورږ تاسې (ټول) له یو نارینه او ښځې پیدا کړي یاست. او د دې دپاره مو خپلونه او قبیلې وګرځولئ چې سره وپېژنئ. (۴۹:۱۳) په آیت کې له شعب نه مراد د وطني اشتراک په بنیاد جوړ شوی قوم دی او له قبیلې نه مراد د نسلي اشتراک له مخې جوړه شوې ډله. د قرآن مطابق، دغه دواړه ډلبندۍ یوازې د تعارف لپاره دي، د عقیدې یا مذهبي اړیکې د ښودلو لپاره نه دي.

له ۱۹۴۷ نه مخکې وختونو کې مولانا حسین احمد مدني ویلي وو چې «په اوسنۍ زمانه کې قومونه له وطنونو څخه جوړېږي.» د مولانا دغه بیان په خپل ځای کې سم و. مګر زه فکر کوم چې په دې بیان کې د

(اوسنۍ زمانې) شرط سم نه و. حقیقت دا دی چې قوم همېشه د وطن په بنیاد رامنځته کېږي. په اوسنۍ زمانه کې یوازې دومره شوي دي چې د نورو ډېرو شیانو په څېر، په دې معامله کې هم د تعین او تشخص لپاره نوې تګلارې کارول شوې. مثلاً په پاسپورټ کې د قومیت لیکل، حال دا چې پخوا د پاسپورټ طریقه دود نه وه، د نړیوالو حقونو د تعین لپاره د قومیت قانوني تعریف، د یوه هېواد له نسبت نه د یوه قوم د وګړو حقونه د قانون په ژبه کې مشخص کول او داسې نور. دا ویل به په ځای وي چې د قوم کلمه په اوسنۍ زمانه کې هم اصلاً په هماغه معنا کې ویل کېږي چې په پخوا زمانه کې ویل کېده، یوازې په دومره فرق چې پخوا په مجمل مفهوم کې کارېده او اوس په مفصل مفهوم کې کارېږي.

ځینې خلک د قومیت تشریح په افراطي انداز کې کوي. تر دې چې هغوی قومیت د مذهب هم معنا ګرځوي. خو دا فکري افراطیت دی. د دغه ډول فکري افراطیت مثالونه پخپله په مذهبي خلکو کې هم پیدا کېږي. مثلاً په اوسنۍ زمانه کې ځینو مسلمانو مفکرینو د اسلام تشریح په داسې افراطي انداز کې وکړه چې له اسلام نه ماسوا هر نظام طاغوتي نظام شو. د مسلمان لپاره له دې طاغوتي نظام سره په موافقت کې اوسېدل حرام وګرځول شو. حتی په دې فرضي طاغوتي نظام کې زدکړې کول، دولتي دنده کول، رایه ورکول، د شخړو د قانونو تصفیې لپاره ملکي محکمو ته رجوع کول، ټول له یوه مخې حرام شول.

د طاغوتي نظام دغه نظريه د ځينو افرادو د افراطي ذهنيت پيداوار وه، د خداى او رسول په راوړي اسلام پورې يې هېڅ تعلق نشته. همدا وجه ده چې حقايقو د دې نظريې ملاتړي مجبور کړل چې په خپل عملي ژوند کې له دې نظريې نه دستبرداره شي. همدا ده چې نن ورځ ټولو خلکو بې له ښکاره ويلو له عملي پلوه دغه افراطي نظريه پرې ايښې ده. همدا د قوميت معامله هم ده. د غرب ځينو افراطګرا مفکرينو د قوميت تصور پراخه کړ او د بشپړ مذهب په بڼه يې وړاندې کړ. خو د حقايقو له غره سره جنګېدو وروسته دا نظريه پاش، پاش شوه. اوس له عملي پلوه د قوميت تصور شاوخوا په هماغه فطري معنا کې ويل کېږي، چې په قرآن کې کارول شوى و.

د شلمې پېړۍ په اولنۍ نيمه کې راپورته شوي مسلمان رهبران په دې فرق پوه نه شول. دوى د قوم او وطن په برخه کې غيرفطري افراطيت اصل وګاڼه او په همدې بنا يې هغه غيراسلامي دريځ اعلان کړ. د دې يو مثال مشهور مسلمان شاعر اقبال (مړينه ۱۹۳۸) دى. ده د قوم او وطن افراطي لنډمهالي تصور ته د اصل په سترګه وکتل او بيا يې د هغه په باره کې دا اشعار وويل:

اس دور میں مے اور ہے جام اور ہے جم اور
تہذیب کے آزر نے ترشوائے صنم اور
ان تازہ خداؤں میں بڑا سب سے وطن ہے
جو پیرہن اس کا ہے، وہ مذہب کا کفن ہے

د قوم او وطن په باره کې دغه نظریه بِلاشُبه بې بنیاده ده. عجیبه خبره ده چې د هغه دور زیاتره مسلمانو علماوو او پوهانو د سیاسي نوعیت شیان د مذهب یا اسلام لپاره د مرګ او ژوند مسایل وګڼل. حال دا چې هېڅ سیاسي لوړه او ژوره د اسلام د ابدیت لپاره ننګونه نه شي کېدی. مثلاً د شلمې پېړۍ په ابتدا کې چې د ترکیې عثماني سلطنت وپرځېد، نو شبلي نعماني دا شعر وویل:

زوالِ دولتِ عثماں زوالِ شرع و ملت ہے
عزیز و فکر فرزند و عیال خاماں کب تک

دا تصور یقینا بې بنیاده دی چې د یوه حکومت ختمېدل د «شریعت او ملت» لپاره د زوال په معنا دی. داسې نه کله شوي او نه کله کېدی شي. په لومړي دور کې راشده خلافت ختم شو، خو اسلام ژوندی پاتې شو. له هغه وروسته اموي سلطنت مات شو، بیا هم د اسلام سفر په خپل حال روان و، ورپسې عباسي سلطنت مات شو، د اندلس اسلامي سلطنت مات شو، د مصر فاطمي سلطنت مات شو، د هندوستان مغل سلطنت مات شو، او داسې نور او نور. خو د دې سلطنتونو زوال د اسلام د زوال سبب نه شو.

دغه راز په شلمه پېړۍ کې ګڼې افراطي مفکورې راهسکې شوې. مثلاً کمیونیزم، نازي ایزم، نیشنلزم او وطنیت، وغیره. خو د دې ټولو وروستی انجام دا شو چې د فطرت قانون د دې نظریاتو افراطي عناصر رد کړ او

بلاخره هماغه څه پاتې شول چې د فطرت له قانون سره سم مطلوب و. د فطرت ابدي قانون له بل هر شي نه لوړ دی. د فطرت قانون د خپل میکانیزم له مخې غیرمعتدل افکار ردوي او د ژوند له ډګر نه یې ایسته غورځوي او په ځای یې معتدلو افکارو ته د غوړېدو فرصت ورکوي.

د قومیت مسئله

سید جمال الدین افغاني په ۱۸۳۸ کې نړۍ ته راغی او په ۱۸۹۷ کې وفات شو. دی د هغې نظریې یو سمبول و چې په ترکیه کې د سلطان عبدالحمید په ملاتړ راپیل شوه او اسلامي یووالی (پان اسلامیز) ورته ویل کېږي. د سید جمال الدین افغاني په زمانه کې شاوخوا ټوله اسلامي نړۍ د انګرېزانو او فرانسویانو په سیاسي ماتحتي کې راغله. جمال الدین افغاني د دې غربي اقتدار د پرځولو لپاره راپورته شو. د دې هدف د ځواکمنتیا لپاره هغه د اسلامي اتحاد نظریه رامنځته کړه. ده به ویل چې د ټولې دنیا مسلمانان، هغه که د ډېرکیو په حیث وي یا د لږکیو په حیث، ټول د یوه واحد امت حیثیت لري.

سید ابو الاعلی مودودي د همدغې نظریې له مخې وویل چې د ټولې دنیا مسلمانان د یوه نړیوال ګوند حیثیت لري. آیت الله خمیني او نورو مشرانو دې تصور ته د الأمة (Ummah) ټکی وکاراوه چې ډېر ژر د ټولې دنیا په مسلمانانو کې مقبول شو. همدغه فکر اقبال په خپل یوه شعر کې په دې ټکو کې بیان کړی دی:

ایک ھوں مسلم حرم کی پاسبانی کے لیے
نیل کے ساحل سے لے کر تا بخاکِ کاشغر

ژباړه: د حرم د ساتنې لپاره دې د نیل له ساحل نه د کاشغر تر خاورې پورې ټول مسلمانانو یو موټی شي.

دغه نړیواله نظریه د استعماري دور له حالاتو سره متصادمه نه ښکارېدله. هغه مهال د دنیا زیاتره هېوادونه عملاً د یوه سیاسي نظام تر چتر لاندې وو. شاوخوا ټول مسلمانان به د همدې یوه سیاسي نظام تبعه ګڼل کېدل. خو کله چې استعماري نظام مات شو او د نیشنلیزم زمانه راغله، نو ډېر زیات ېبل، ېبل سیاسي وحدتونه رامنځته شوو. که پخوا د یوې امپراتورۍ د وفاداري مسئله وه نو اوس د سلو قومي وحدتونو د ېبلې، ېبلې وفاداریۍ مسئله مخې ته راغله:

Pan-Islamis was the dominiant ideology of the Muslim World of the 19th century befor the rise of Nationalism. (Encyclopedia Britannica, Vol. 7, p. 719)

له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته چې د دنیا نقشه بدله شوه نو مسلمانان له فکري پلوه له یوه پېچلي وضعیت سره مخ شول. هغه خلک چې د نړیوال قومیت په قالب کې یې خپل سیاسي شناخت جوړ کړی و، هغوی مجبور شول چې د سیمه‌ییز قومیت په قالب کې له سره د ځان لپاره سیاسي شناخت ولټوي. په دې نازک وخت کې زما د علم له مخې،

په ټوله اسلامي نړۍ کې يوازې يو عالم و چې دې پوښتنې ته يې د ځواب ويلو هڅه وکړه. دا مولانا سيد حسين احمد مدني (۱۸۷۹-۱۹۵۷) و. هغه له ۱۹۴۷ نه مخکې د بحراني سياست په زمانه کې په زغرده اعلان وکړ چې: په اوسنۍ زمانه کې قومونه له وطنونو څخه جوړېږي. (شرح ارمغان حجاز، يوسف سليم چشتی، ۱۹۸۲، نوې ډېلي، صفحه ۲۷۲۲) دا بلاشبه يوه اجتهادي رهنمايي وه. خو له بده مرغه د مولانا له وفات وروسته پخپله د ديوبند علماوو اعلان وکړ او دغه خبره يې رد کړ چې گواکې مولانا چې په دې برخه کې څه فرمايلي و هغه مازې يو خبر (informal observation or report) و، کومه رسمي حقوقي اعلاميه (formal legal declaration) نه وه.

دا ساده خبره نه ده. خورا نازکه مسئله ده. اړتيا ده چې په دې مسئله باندې ښه بې پرې غور شي. د مولانا حسين احمد مدني له دريځ نه د رجوع په صورت کې فکري يا اعتقادي پوزيشن دا جوړېږي چې د ټولې دنيا د مسلمانانو قوميت (nationality) اسلام دی. په نورو ټکو کې دا چې د مسلمانانو سياسي وفاداري په مشترک ډول د هغوی په مذهب پورې تړلې ده. خو اوس چې په هر هېواد کې قوميت په وطن (homeland) پورې تړلی دی، نو دا نظريه هر ځای له سيمه‌ييزو تقاضاوو سره په ټکر کې راغلې ده.

مثلاً په امريکا يا بريتانيا يا انډيا کې د قوميت د معاصر تصور تقاضا دا ده چې په دې هېوادونو کې د مېشتو مسلمانانو سياسي وفاداري يوازې په

خپل وطن پورې وابسته وي، او له خپل وطن نه دباندې هېڅ ډول سیاسي وفاداري (extra-terrestrial loyalty) ونه لري. حال دا چې د الأمة نظریه په بالعکس ډول دا وایي چې د مسلمانانو وفاداري باید له نړیوال اسلام سره وابسته وي، نه په خپل ملک پورې. دې تضاد په ټوله دنیا کې په هر هغه هېواد کې د مسلمانانو ملي وفاداري تر پوښتنې لاندې راوستې ده چې مسلمانان په کې د یوه اقلیت په حیث ژوند کوي.

دا یوه خورا سنګینه مسئله ده. له سوچه فکري پلوه مسلمانان له دوو څخه یو انتخاب لري. یا خو دې دوی د خپل اعلان کړي دریځ مطابق دا ووایي چې مور د نړیوال قومیت وګړي یو، د سیمه‌ییز قومیت قایل نه یو. دغه دریځ دې ور خپل کړي او بیا دې د هغه هره بیه د زړه له اخلاصه پرې کړي. مثلاً که په هېواد کې د دوی وطني وفاداري مشتبه وګڼل شي او په ملکي پوځ کې ځای ورنه کړل شي، په بهرنیو چارو وزارت کې کار ته ونه نیول شي، د سفیر دنده ورنه کړل شي، د هېواد د نړیوالې استاوزلۍ په فورم کې ځای ورنه کړای شي، په خپل هېواد کې د دویمې درجې ښاروند وګڼل شي، نو دوی ته پکار ده چې دا هر څه د خپلې نظریې فطري بیه قبوله کړي.

د مسلمانانو لپاره بله لاره دا ده چې په ډاګه دا اعلان وکړي چې د الأمة نړیواله نظریه د ځینو اسلامي رهبرانو شخصي نظریه وه چې هغوی د خپلو خاصو حالاتو په غبرګون کې غوره کړې وه او په غلطي کې یې هغې ته د اسلام نوم ورکړی دی. اوس مور هغه نظریه ردوو او هغسې چې مولانا

حسین احمد مدني اعلان کړی و، مور دا نظریه راخپلوو چې د عقیدې او مذهب له پلوه بِلاشُبه د ټولې دنیا مسلمانان هم‌مذهبه دي، خو تر کومه چې د قومیت (nationality) خبره ده، د هر مسلمان قومیت هماغه دی چې د ده وطن دی. د قومیت تعلق په وطن پورې دی، نه په مذهب پورې. که د مسلمانانو له لوري په ډاګه دا اعلان وشي نو یاد تضاد به ختم شي او بیا به هېڅ څوک د دې فرصت ونه مومي چې د مسلمانانو په ملي وفاداري شک وکړي.

که مسلمانان له دې دواړو څخه یو دریځ هم ور خپل نه کړي بلکې داسې وکړي چې د خپل دریځ په اړه له څرګند اعلان پرته د خپلو هېوادونو په مادي وېش ځانونه ور ګډ کړي نو دا به یو دوه ګونی معیار (double standard) وي. یانې په خپل فکري یا اعتقادي دریځ کې د بدلون له اعلانونو پرته په پټه خپل عملي دریځ بدلول. دغه ډول روش به د فرصت‌طلبي (opportunistic) روش ګڼل کېږي، نه کوم اصولي روش.

په دغه ډول دوه ګوني روش لاس پورې کول ساده خبره نه ده. بلکې زیانونه یې خورا درانده دي. د دې کار پایله به دا وي چې له مسلمانانو نه به د اصولي کردار مزاج ختم شي. د دوی روحاني ارتقا به (spiritual development) ودرېږي. فکري بهیر (intellectual process) به په کې په ټپه ودرېږي. د دوی شخصیت به د ارتقایي پړاوونو له وهلو څخه بې برخې شي. دوی به د هغه ستر نعمت له لذت نه نااشنا شي چې په قرآن کې ورته ازیادِ ایمان (4 :48) ویل شوي. د دې اخري نتیجه به دا وي

چې دوی به د ذهني جمود ښکار شي او د دې جوګه به پاتې نه شي چې د علم او فکر په اعتبار په دنیا کې کومه لویه کارنامه ترسره کړي.

په قرآن کې ویل شوي دي چې د هر پیغمبر امت ته د خدای له لوري ښل، ښل شریعت او منهاج ورکول شوی (۵:۴۸) دا خبره په ظاهره د امت له اړخه شوې ده، خو په حقیقت کې دا خبره د زمانې په نسبت مقصود ده. د دې معنا دا ده چې په هره زمانه کې خلکو ته د هغوی د زماني حالاتو په نسبت شریعت او منهاج ورکول شوي دي. د همدې لپاره په فقه کې دا مسئله وضع شوې ده چې د زمانې او سیمې له بدلېدو سره احکام هم بدلېږي: **تتغیر الاحکام بتغیر الزمان والمکان (دتفصیل لپاره وګورئ: اعلام الموقعین لابن القیم الجوزیة، جلد ۳، صفحه ۱۱، مجلة الاحکام العدایة، ماده: ۳۹)**

د الهي تشریع دغه اصول یوازې د پیغمبر علیه السلام نه دمخه خلکو لپاره نه و. بلکې له پیغمبر علیه السلام وروسته د هغه د امت لپاره هم همداسې مطلوب دی. یوازې په دومره فرق چې تېرو امتونو ته به نېغ په نېغه د پیغمبر له لارې د احکامو د بدلون لارښوونه رسېدله. او اوس د نبوت له ختمېدو وروسته به د علماوو د اجتهاد له لارې د احکامو د بدلون دغه کار ترسره کېږي.

د دې تشرـیعي اصول له مخې، دا خبره په ځای ده چې د قومیت (nationality) په برخه کې په اوسنۍ زمانه کې چې کوم تصور په نړیواله کچه دود او منل شوی دی، د هغه په رڼا کې به د اجتهاد له لارې له سره

په دې برخه کې د شریعت دریځ ټاکل کېږي. او هغه موقف هماغه دی چې له ۱۹۴۷ نه مخکې زمانه کې یې مولانا سید حسین احمد مدني اعلان کړی و.

شرعي دریځ دا دی چې په اوسنۍ زمانه کې مسلمانان د عقیدې او مذهب په اعتبار بلاشبه یوه عقیده او یو مذهب لري، خو تر کومه چې د قومیت تعلق دی، هغه به د هېواد له مخې ټاکل کېږي. یانې د هر هېواد د مسلمانانو قومیت به هماغه حسابېږي چې د هغه هېواد د نورو ډلو قومیت وي.

هندوستاني قومیت

[دا مقاله به په هند پورې اړوند وي، خو تطبیقي اړخ یې زمونږ لپاره هم د غور وړ نکتې لري؛ ژ]

زمونږ د خبرو موضوع دا ده ـــــــــ هندوستاني قومیت له څه رغېږي؟

What Constitutes Indian Nationalism

دا سوال بلاشبه خورا مهم ملي سوال دی. د دې سوال په ځواب باندې د هېواد رغونه او پیشرفت ولاړ دی. له دې پلوه دا سوال باید په ۱۹۴۷ کې لا په بشپړ ډول حل شوای وای. خو مونږ ګورو چې نن ورځ هم په دې سوال باندې بحث روان دی. له دې نه ښکاري چې له شاوخوا نیمې پېړۍ وروسته هم د دې سوال ټولټلی ځواب معلوم نه شو.

د دې غیرعادي ځنډ سبب څه دی؟ زما په نـزد د دې بنیـادي سـبب دی ـــــ د دوو شیانو ترمنځ فرق نه کول. په ټولنیز ژوندانه کې همېشه ځینې شیان ملي (مشترک) وي، او ځینې نور شیان شخصي (غیرمشـترک). پـه ملي برخه کې یو رنګي مطلوب وي، او په شخصي- برخـه کـې تعـدد. کـه ملي مسایل د هر انسان ذوق (taste) ته پربښـودل شي، نـو هېـواد ورسره تباه کېږي. دغه راز که دا هڅه وشي چې په شخصي برخه کې ټول خلک په یوه تګلاره ودرېږي، نو ټوله ټولنه به ورسره د تیت او پرکي ښکار شي.

د دې مسئلې د پېچلتیا مسؤلین د بېلا بېلو ډلو هغه جـذباتي خلـک دي چې دغه دوه شیان یې له یو بله بېـل نـه کـړای شـول. هغـوی دا تېروتنـه وکړه چې له یوې ملي مسئلې نه یې د شخصي هغې جوړولو هڅه وکړه، او هغه مسئله چې شخصي وه، هغې ته یې د مـلي مسـئلې د درجـې ورکولـو ټینګار وکړ. دغه ډول غیرفطـري او غیرحقیقـي هڅـه یـوازې انتشـار پیـدا کولی شي، او یوازې هماغه یې پیدا کړ.

مثلاً زمور هغو رهبرانو چې د «مشترک مدني قانون» ماده یې په اساسي قانون کې زیاته کړه، هغوی د یـوې شخصي- معـاملې د مـلي کولـو هڅـه وکړه. ځکه واده یا د نکاح او طلاق مسایل د خلکو په شخصي ژوند پورې اړه لري. دا د هر انسان فردي مسئله ده، نه د ټول هېـواد مـلي مسـئله. د همدې تېروتنې دا پایله ده چې دغه قانون له بې ځایه بحثونو پـارولو پرتـه نور هېڅ هم نه دي کړي.

دغه راز مسلمانان د پاکستان په بریا خوشالۍ لمانځي او وایي چې پاکستان اسلامي هېواد دی، او له دې اړخه دا زمور لپاره یوه جذباتي مسئله ده. خو دا په اصل کې له ملي مسئلې نه شخصي۔ مسئله جوړول دي. هندوستان زمور وطن دی. هرکله چې هند له یوه بل هېواد سره سیالي لري، د کرکټ لوبغالی وي یا د جګړې ډګر، نو زمور جذبات به لازمي د خپل وطن په خوا وي. په دې برخه کې انفرادي تګلاره هېڅ کله د منلو وړ نه شي کېدی ـــــ نامشترک په مشترک بدلول چې څومره لویه غلطي ده، همدومره غلط له مشترک نه نامشترک جوړول هم ده.

په دې مسئله باندې په ساده او فطري ډول د ځان پوهولو اسانه لاره دا ده چې د کورنۍ په سطحه ورته وکتل شي. کورنۍ د یوه قوم ابتدايي واحد دی. د ګڼو کورنیو ټولګې ته قوم ویل کېږي. اوس وګورئ چې د کورنۍ په سطحه د دې مسئلې نوعیت څه دی. تاسې پوهېږئ چې د کورنۍ په سطحه همېشه ځینې خبرې د مشترکو ګټو وي. په هغو کې د کورنۍ د هر غړي رایه یوازې یوه وي. او له هغو علاوه ځینې شیان د انفرادي ذوق (taste) وي. په هغو کې د هر غړي فکر بېل، بېل وي.

په مشترک مفاد کې د مثال په ډول یو مهم شی اقتصادي یا مالي ګټه ده. هغه شیان چې د کورنۍ په اقتصادي ګټو پورې تړلي وي، په هغو کې د ټولو فکر یو ډول وي. په داسې چارو کې د کورنۍ ټول غړي بې له اختلاف نه په هماغه یوه لیدلوري راټول وي. په داسې چارو کې که په

څو ليدلورو عمل وشي، نو پخپله د کورنۍ وجود به ورسره له خطر سره مخ شي.

خو تر کومه چې د انفرادي ذوق مسئله ده، نو په دې کې د هر يوه قضيه جلا، جلا ده. مثلاً يو، يو ډول خواړه خوښوي او بل، يو بل ډول خواړه. ځينې غربي جامې اغوندي او ځينې شرقي جامې. د يوه له ادب سره مينه وي او بل له ساينس سره علاقه لري. يو کلک مذهبي وي او بل بيا د مذهب په برخه کې ليبرال وي. د يوه، يو رنګ فرنيچر خوښ وي او د بل بيا د بل رنګ فرنيچر، او داسې نور.

په همدې دوه ګوني اصول د ټولو کورنيو نظام ولاړ دی. هندو کورنۍ وي يا مسلمانه کورنۍ، يا په بلې ټولنې پورې تړلې کورنۍ. د هرې يوې لپاره د فطرت همدا اصول دی، او په دنيا کې هر ځای همدا اصول چلېږي.

په نومبر ۱۹۹۱ کې په شولاپور (مهاراشټر) کې د ملي يووالي په موضوع سيمينار و. په دې سيمينار کې يې ماته هم بلنه راکړې وه. په دې موقع کې شري تلسي داس جادهو هم وينا وکړه. هغه په خپله وينا کې وويل چې ما په خپل کور کې ليدلي دي چې پلار مې غوښه‌خور دی او مور مې بيا کلکه سابه‌خور ده. خو په دې سربېره په دوی دواړو کې هېڅ کله اختلاف نه دی پيدا شوی. ما کلونه کلونه ليدلي دي چې زما مور به سهار راپورته شوه، اول به يې زما د پلار لپاره غوښه پخه کړه او هغه به يې د

خوړو په مېز کېښوده. بیا به غسل خانې ته لاړه، حمام به یې وکړ او بیا به یې د ځان لپاره دال او سبزي پاخه کړل.

زما مور د عمر تر پایه پورې همداسې کول. د خوړو په برخه کې د دواړو ترمنځ دوی لوی فرق و. خو د دې فرق په سر په دوی کې هېڅ کله لانجه نه ده راغلې. دواړه ټول ژوند په مینه او درناوي یو بل سره واوسېدل.

همدا د هرې کورنۍ معامله ده. په هره کورنۍ کې ځینې شیان مشترک وي او ځینې شیان نامشترک. له مشترکې حصې نه مراد هغه شیان دي چې په ټولو پورې یو شان تعلق مومي. مثلاً د کورنۍ عزت، د کورنۍ کاروبار، د کورنۍ پرمختګ، د کورنۍ امنیت. دا هغه شیان دي چې د کورنۍ د هر غړي مشترکه اندېښنه وي. په دې شیانو کې د کورنۍ د یوه غړي او د کورنۍ د بل غړي ترمنځ هېڅ فرق نه وي.

د کورني ژوند دوهمه برخه هغه ده چې نامشترکه وي. په دې کې هر سړی د خپل ذوق له مخې چلېږي. دا نامشترکه حصه ده ـــــــ خوراک څښاک، پوښاک، ساتېرۍ، شخصي عادتونه او داسې نور. د ژوند فطري اصول دا دی چې په مشترکو چارو کې ټول وګړي یوه لیدلوري ته پابند کړای شي. خو په نامشترکو چارو کې هر یوه ته ازادي ورکول شي چې د ځان لپاره د خپلې خوښې روش غوره کړي. په وحدت کې تنوع، او تنوع کې د وحدت په همدې اصول کې د یوې ټولنې د بریا راز نغښتی دی.

په لویه کچه کې د قوم معامله هم د کورنۍ په څېر ده. دلته هم یو ملي مفاد دی، بل انفرادي مفاد. کـه دواړه جلا، جلا مراعات شي او سره اشتباه نه شي، نو د قوم معامله به سمه روانه وي. او کـه د دواړو فرق لـه پامه وغورځول شي او بې ځایه د فکري ربګمال پـه مرسته د دواړو د یـو کولو هڅه وشي، نو له هغه وروسته دا مسئله مازې یوه ټولنیزه مسئله نـه پاتې کېږي، بلکې په یوه داسې مسئله بدلېږي چې هېڅ کله حل نه شي.

کورنۍ د خپلوۍ په بنیاد جوړېږي او قوم د وطن پـه بنیـاد جوړېږي. د قومیت ساده اصول دا دی چې په یوه مځکنۍ ټوټه باندې چې کوم خلک مېشـت دي، هغـوی ټـول یـو قـوم دي. مـثلاً پـه انـډیا کـې هنـدوان، مسلمانان، سیکان، عیسویان او پارسیان اوسي، هغوی ټول یو قـوم دي. او فرق نه کومي چې دې واحد قوم ته هندوستاني وویـل شي یـا د انـډین یا بهارتي نوم ورکول شي.

د هندوستاني قومیت په دې بشري مجموعه کې ځینـې شـیان مشـترک دي، او په خوا کې یې ځینې نور شـیان داسـې دي چـې انفـرادي حیثیـت لري. هغه شیان چې د انډیا په اتحاد یا مجموعي مادي مفاد پورې تعلـق لري، په هغه کې به په دې خاوره باندې د مېشت هر وګـړي لیـدلوری یـو وي. مثلاً د کشمیر مسئله به د مسلمان لپاره اسلامي مسئله نه وي بلکې یوازې به ورته هندوستاني مسئله وي. دغه راز د آسام مسئله به د عیسوي لپاره عیسوي مسئله نه وي بلکې هندوسـتاني مسـئله بـه وي. پـه همـدې ډول هغه ټـول مسـایل چـې د هېـواد پـه مجمـوعي سـیاسي، اقتصـادي،

جغرافيوي ګټو پورې تړلي وي، په هغو کې به د هېڅ وګړي یا ټولنې فکر بېل نه وي.

خو له دې مشترکو ملي ګټو ور اخوا ګڼ نور شیان دي چې په انفرادي ذوق پورې تعلق لري. په دې اړخونو کې به هر یوه ته په خپله شخصي-دایره کې ازادي حاصله وي. مثلاً مذهب، خوراک، پوښاک، ژبه، بود و باش، واده او نیادي، په څېر مسایلو کې به هر یو په خپله محدوده دایره کې ازادي لري چې د خپلې انفرادي خوښې مطابق طرز او انداز خوښ کړي. همدا طریقه نن ورځ په ټولو پرمختللو هېوادونو کې رواج ده.

که په دې انفرادي ازادي کوم بندیز ایښودل کېدی شي نو هغه یوازې دا چې یو څوک باید د خپلې ازادي له هغه حد نه تېری ونه کړي چې د نورو په ازادي کې د خنډ او خلل سبب شي. په دې برخه کې هماغه اصول صدق کوي چې یوه امریکایي وګړي په لاره روان خپل یوه وطنوال ته هغه وخت ویلی و چې له خپلې ازادي نه د ناسمې استفادې له املـه د هغه لاس د ده په پزه لګېدلی و. هغه ورته وویل چې دا سمه ده چې ته ازادي لرې. خو ستا ازادي په هغه ځای کې پای ته رسېږي، چېرته چې زما پزه شروع کېږي:

Your freedom ends where my nose begins.

حقیقت دا دی چې د همالیه غر او بحرِ هند په منځ کې پرته یوه مځکنۍ ټوټه چې زمورږ اساسي قانون د «انډیا» په نوم تعریف کړې ده،

په هغې کې مېشت هر وګړی انډين دی. دوی ټول يو قوم دي. د ټولو لپاره اړينه ده چې ټول همدا يو ملي فکر خپل شناخت وګرځوي او په ګډه له يو بل سره ژوند وکړي.

خو په دې پراخه ملي ټولګه کې چې کوم وګړي مېشت دي، په خپله شخصي دايره کې د هغوی د ژوند طرز (mode of life) يو ډول نه شي کېدی. او نه په کوم هېواد کې يو ډول دی. د لومړنۍ دايرې لپاره د فطرت تقاضا ده چې د ټولو د فکر طرز يو وي. خو د همدې فطرت بله تقاضا دا هم ده چې په شخصي دايره کې دې د هغوی په منځ کې تنوع موجود وي. له يوه مور او پلار نه پيدا شوي څلور وروڼه د کورنۍ د مشترکو ګټو په معامله کې د فکر له مشترک طرز نه برخمن وي. خو په شخصي دايره کې د څلور واړو وروڼو مزاج او څلور واړو وروڼو خوښه جلا، جلا وي.

معلومه شوه چې هغه څه چې مورِ يې هندي ملت بولو، د هغه دوه دايرې دي. په يوه دايره کې يو رنګي مطلوبه ده او په بله دايره کې تنوع. د يو رنګي په دايره کې تفرق نه شي زغمل کېدی. خو د تنوع دايره له دې نه بېله ده. دلته د بريالي ژوند راز يوازې يو دی، او هغه دا چې د يو بل ترمنځ فرق وزغمل شي. که په لومړنۍ معامله کې د «من تو شدم تو من شدی» اصول پلي دی، نو په دې بله معامله کې د Let us agree to disagree (په اختلاف باندې د اتفاق) اصول.

د هندوستاني قوميت بريالۍ رغونه يـوازې هغـه وخـت ممکنـه ده چـې د دواړو برخو په فرق ځان وپوهول شي او هر يو سم مراعات کړای شي. په لومړنۍ دايره کې که بېلوالی دومره بد شی دی چې ملي خيانت ورته وويل شي، نو په دې بله دايره کـې بيـا د Walt Whitman دا وينـا صـدق کـوي چې زه دومره وسعت لرم چې دا ټول تضادات پـه ځـان کـې راټـول کـړای شم.

I am large enough to contain all these contradictions.

مور وطن ويل

يوه ښاغلي د ايميل له لارې سوال کړی چې انډيا ته مور وطن ويل روا دي يا ناروا. د دې سوال ځواب دا دی چې مور وطن د روا يا ناروا پـه ژبـه کـې بيـانول لـه دې مسـئلې نـه بـې ځايـه شرعـي مسـئله جـوړول دي. دا افراطيت دی چې له هر شي نه د روا يا ناروا مسئله جـوړه شي. دې مـزاج ته په شريعت کې غلو ويل شوي دي، او په قرآن او سنت کې لـه غلـو نـه ممانعت راغلی دی. يو ځل وابصة الاسدي صحابي رسـول الله تـه راغـی، هغه ډېر زيات سوالونه په زړه کې راوړي وو. رسول الله د هغه سـوالونو تـه ځواب ورنه کړ، بلکې ورته ويې ويل: **استفت قلبـک (مسـند احمـد، حـديث ۱۸۰۰۶)** يانې، له خپل زړه نه فتوا وغواړه.

د دې معنا دا ده چې له هرې خبرې نه شرعي مسئله مه جوړوئ. بلکـې د خپل وجدان اواز ته غوږ ونيسـئ. هغـه خلـک چـې انـډيا تـه مـور وطـن

وايي، هغوی يې په دې معنا کې نه وايي چې دوی د همدې جغرافيې له بطن نه راوتلي دي. حقيقت دا دی چې دا د استعارې (metaphor) ژبه ده. اصل دا دی چې له مور وطن نه مراد هماغه څه دی، چې په نورو ټکو کې ورته مسقط الرأس، وطن (homeland)، د زوکړې ځای (birth place) او داسې نور ويل کېږي. که فرضا ځينې خلک د مور وطن کلمه په دې معنا کې وکاروي چې دوی د وطن له نس نه هماغسې پيدا شوي لکه يو انسان چې د مور له نس نه زېږي، نو دا به د هغوی خپله مسئله وي، نه ستاسې مسئله.

تاسې د مور وطن کلمه په خپل مفهوم کې وکاروئ. نور خلک پرېږدئ چې هغوی په کومه معنا کې دا کلمه کاروي. دا هم د ژوند يو حکمت دی چې يوه خبره خپل منطقي حد (logical end) ته ونه رسول شي. بلکې د عام او دود مفهوم په اعتبار واخيستل شي.

د مور وطن (بهارت ماتا) اصطلاح د نولسمې پېړۍ په وروستۍ زمانه کې دود کړای شوه. د خپلواکې د غورځنګ رهبرانو دغه اصطلاح د سياسي اهدافو له مخې کارولې وه. او کوم مذهبي شاليد نه لري.

حب الوطني او ملي يووالي

د مسلمانو علماوو غونډه وه. يوه عالم په خپله وينا کې وويل چې په مسلمانانو دا ناسم تور پورې کېږي چې دوی د هېواد په حياتي مسايلو (mainstream) کې ونډه نه لري، بلاشبه ونډه لري. خو ما ورته وويل چې

زما په نزد دا شکایت بالکل په ځای دی. هغوی وویل، چې هغه څنګه؟ ورته ومې ویل چې په مېن سټریم کې د ځان شاملولو لپاره د پیل نکته دا ده چې تاسې دا ومنئ چې هندو او مسلمان دواړه یو قوم دي. حال دا چې تر اوسه پورې خبره دغسې نه ده.

ما وویل چې د هندوستان هر عالم چې کله خپل پاسپورټ جوړوي، نو د تابعیت په خانه کې دی هم د یوه هندو په ټېر د ځان لپاره انډین لیکي. د دې معنا دا ده چې د هندو او مسلمان تابعیت یو دی او دواړه یو قوم دي. خو علماوو تر اوسه پورې د دې خبرې اعلان نه دی کړی. له ۱۹۴۷ نه مخکې د مسلم لیګ د غورځنګ تر چتر لاندې په مسلمانانو کې دا ذهنیت پیدا شو چې هندو او مسلمان دوه جلا قومونه دي. له شعوري یا لاشعوري پلوه تر اوسه پورې همدا ذهنیت راروان دی. د دواړو د مېن‌سټریم ته راوستو لپاره لومړنی کار دا دی چې د علماوو له لوري یوه ګډه اعلامیه خپره او په کې وویل شي چې د قومیت تعلق په وطن پورې وي. دا چې د هندوانو او مسلمانانو وطن یو دی، د همدې لپاره دواړه یو قوم دي. له پاسپورټ نه د شخصي ګټې لپاره ټول په خپل فورم باندې خپل تابعیت انډین په ګوته کوي، خو د همدې خبرې د عمومي اعلان لپاره تیار نه دي. څومره عجیب دی دا تضاد چې د خلکو په ژوند کې لیدل کېږي.

Good Indian

په انګریزي سنډې مجله کې د ښاغلي اړُن شوري يوه تفصيلي مرکه راغلې وه. دا مرکه مني شنکرایر ورسره کړې وه. په مرکه کې د شوري له خبرو يوه دا هم وه چې د يوه ښه مسلمان (Good Muslim) يو ښه هندوستانی کېدل (Good Indian) ډېر مشکل دی. د انټرويو له لوستو وروسته ما اړُن پوري ته زنګ وکړ. او ورته ومې وويل: ووايئ چې زه ښه مسلمان يم يا نه؟ هغه وويل چې دا خبره څوک کولی شي چې تاسې ښه مسلمان نه ياستئ. بيا مې ورته وويل چې واورئ، زه يو مسلمان هم يم او ښه هندوستانی هم يم. له دې خبرو سره دا مې هم له خولې ور ووتل چې ـــــ که زه ښه هندوستانی نه يم، نو بيا مهاتما ګاندي هم ښه هندوستانی نه و.

له دې پېښې څو ورځې وروسته ډاکټر مهيش چندر شرما (د پارلمان غړی) زما دفتر ته زما ليدو ته راغی. ما پاسنۍ خبرې هغه ته وکړې. هغه وويل: مولانا صاحب، ستاسې د ښه هندوستاني کېدو لپاره د کوم اړُن پوري سند ته اړتيا نشته، تاسې له سند پرته ښه هندوستاني ياستئ.

تر دې وروسته يوه بله پېښه هم وشوه. په ۲۳ نومبر ۱۹۹۶ کې زه د پونې په سفر تللی وم. يوه شپه د سهار له لمانځه نه مخکې څلور بجې راپورته شوم. اودس مې وکړ او دوه رکعته لمونځ مې په اورد قرأت سره وکړ. بيا په خپله خونه کې کېناستم، ناڅاپي راياد شول چې شري ګرو ګولواکلکر او

اړن شوري ليکلي دي چې يو ښه مسلمان هېڅ کله يو ښه هندوستانی نه شي کېدی. په دې خبره باندې د فکر کولو په وخت کې زما له سترګو اوښکې راروانې شوې چې دا خلک، انسان څومره کم پېژني. له دوی نه ډېر انسان شناس د شلمې پېړۍ شاعر والټ ویټمن (Walt Whitman) و چې ویلي يې و:

I am large enough to contain all these contradictions.

ځان سره مې دا خبره کوله او ژړل مې چې په خدای زه يو ښه مسلمان يم او په خوا کې يې ښه هندی هم يم. دا زما د انساني شرافت توهين دی چې دا وويل شي چې په کوم هېواد کې زه پيدا شوی يم، زه د هغه يو ښه ښاروند نه يم. له وطن سره مينه يوه سوچه فطري جذبه ده. او د يوه شي جړې چې په انساني فطرت کې غځېدلې وي، له هغه نه يو انسان هېڅ کله نه شي بې برخې کېدی.

ما په خپل زړه کې وويل چې که مهاتما ګاندي راپيدا شي او راته ووايي چې زه تاته د ښه هندیتوب سند درکوم، نو زه به د داسې سند له اخيستو انکار وکړم. زه به ورته ووايم چې ايا يو زوی اړتيا لري چې د خپلې مور د ښه زوی کېدو لپاره د بل چا له لاسه سند واخلي. په خدای زه د ګروګولوالکر يا ګاندي له سند پرته ښه هندوستانی يم. په خپله تنهايي کې د هند په مينه کې زما له سترګو روانې اوښکې چې هېڅ څوک يې نه

ويني، د دې لپاره کافي دي چې زه خپل ځان په بشپړه معنا ګوډ انډين وګڼم.

رښتينې حب الوطني

د اسلام په تاريخ کې د حديبيې سوله نوم دی، په حاضر وضعيت راضي کېدل؛ او په اختلافي چارو کې همدا يوازنۍ عملي تګلاره ده چې بنده په روان وضعيت (status quo) راضي شي.

د هندوانو په ګڼو ناستو او غونډو کې ما څو، څو ځله دا خبره کړې چې يوه خبره دا کېږي چې مسلمان نېه هندوستانی نه شي کېدی. دا يوه بې بنياده خبره ده. زه په پوره معنا يو مسلمان يم. خو په دې باوجود په پوره معنا يو نېه هندوستانی هم يم. بيا مې زياته کړه چې زه که نېه هندوستانی نه يم، نو مهاتما ګاندي هم نېه هندوستانی نه و. بيا مې وويل چې زه د نېه هندوستاني کېدو لپاره د کوم چا سند ته ضرورت نه لرم. له دا ډول سند پرته هم زه نېه هندوستانی يم.

ورپسې مې وويل چې د هندوانو په وړاندې زه ځکه دا خبره په جرأت سره کولی شم چې زه له انډيا سره رښتينې مينه لرم. زه په پوره معنا په وطن مېين شخص يم. مثلاً که يو اسلامي هېواد او انډيا په کوم ډګر کې سره مخامخ شي، نو زه به له زړه غواړم چې د اسلامي هېواد په مقابل کې دې انډيا بريالۍ شي.

د وطنیت احساس

ډاکټر حمیدالله ندوي په بوپال پوهنتون کې د عربي څانګې استاد دی. دی ډېلي ته راغلی و. په خبرو کې ده وویل چې په اوسنۍ زمانه کې نااهله اسلامي رهبري یو خطرناک کار دا کړی دی چې په خپلو بې بنسټه خبرو یې د هندوستان له مسلمانانو نه د وطنیت احساس تروړلی دی. دلته د مسلمانانو اوس حال دا دی چې دوی په سمه معنا کې هندوستان خپل وطن نه ګڼي او دوی په دې هم پوهېږي چې بل کوم هېواد هم د دوی منلو ته تیار نه دی. په دې ډول دوی له ذهني پلوه په خپل ملک کې هم بې درکه شوي او په نورو هېوادونو کې هم. دې ذهنیت مسلمانانو ته خورا ډېر زیان اړولی دی.

په اوسنۍ زمانه کې مسلمانو مشرانو د نیشنلیزم او حُب الوطني په خلاف دومره غوغا راولاړه کړه چې اوس دغه مخالفت د اکثریت مسلمانانو د ذهنیت برخه ګرځېدلی دی. د دې لپاره یو دلیل دا ورکول شوی دی چې په اوسني نیشنلیزم او حُب الوطني سره د مسلمانانو تشخص له منځه ځي، او د یوه ټبل ملت په حیث به یې وجود له منځه لاړ شي. خو دا خطر یوازې د بې شعوري زېږنده دی. ډېره مهمه خبره دا وه چې د دې غوغا په پایله کې مسلمانان له نورو نه ګوښه شول. او بیا عملا دا ور پېښ شول چې یوه خوا د دوی دنیوي پرمختګ په تېپه ودرېد او په بله خوا کې د دوی د دین په هکله په عامو انسانانو کې ډېر زیات ورانپوهاوي پیدا شوو.

شتمنه اندیا، نېستمنه امریکا

یو ځل ټریسا مور (۱۹۹۷ - ۱۹۰۱) امریکا ته غونښتل شوې وه. دې هلته په یوه لویه غونډه کې ګډون وکړ چې د امریکا ولسمشر هم په کې ناست و. ټریسا مور نه چې د خبرو غونښتنه وشوه نو هغې د خپلې وینا له پیلولو مخکې لومړنۍ خبره دا وکړه: زه له شتمنې اندیا نه نېستمنې امریکا ته راغلې یم.

د هغې د خبرې معنا دا وه چې امریکا به له مادي پلوه شتمنه وي، خو له روحاني پلوه مفلسه ده، حال دا چې اندیا له مادي پلوه وروسته پاتې ده، خو بیا هم په روحاني اعتبار له امریکا نه مخکې ده.

مور ټریسا په البانیا کې نړۍ ته راغله. د ځوانۍ په عمر کې یې د اندیا تابعیت واخیست. او بیا یې په ټول زړه هندوستان خپل وطن ومانه. پاسنۍ جمله د همدې وطندوستي له احساس نه ټوکېدلې جمله ده. ډېرې خلک شته چې په همدې اندیا کې زېږېدلي دي، خو بیا هم د ټریسا مور په څېر د وطندوستي له احساس نه محروم دي.

دا اسلام نه دی

د راپور له مخې، د امریکا په پوځ کې پنځلس زره مسلمانان دي. دا خلک په یو ډول اروایي بحران کې مبتلا دي. هغه دا چې ایا دوی د امریکا د پوځ له لیکو نه د اسلامي هېواد عراق په خلاف جګړه وکړي یا یې ونه کړي. ویل شوي دي چې یوه امریکایي مسلمان چې نوم یې اکبر

دی او په کوټ کې له امریکایي پوځ سره و، د ذهنـي پرېشـاني پـه حـال کې د امریکـایي پوځیـانو پـه یـوه کیمـپ پـه لاسي بـم بریـد وکړ او شـپږ امریکایان یې ووژل.

زما په نزد په دې برخه کې د امریکایي مسلمانانو لپاره انتخاب دا نه دی چـې هغـوی د امریکـایي پـوځ لـه لیکـو نـه د اسـلامي هېـواد پـه خـلاف وجنګېږي یا نه. رښـتینی انتخـاب دا دی چـې دوی یـا امریکـایي تابعیـت ومني او یا یې تابعیت پرېږدي او له امریکا نه ووځي. زما په نزد دا منافقانه رویـه (double standard) ده چـې د امریکـا پـه تابعیـت دې د هغـې لـه مادي اسانتیاوو ګټه واخیستل شي او چې کله امریکا پـه یـوه مـلي جګړه کې ښکېله شي، نو په دې جګړه کې د امریکا په خوا کې ونه درېږي.

نن ورځ د امت کوم تصور چې په مسلمانانو کې خپـور شـوی دی، زه لـه هغه سره هېڅ موافق نه یم. زما په نزد مسلمانان د خپـل مـذهب لـه پلـوه نړیوال امت دي. خو د وطن په اعتبار د دوی وفاداري باید له خپل وطـن سره وي، هغسې چې د نورو قومونو وګړي د مـذهب پـه اعتبـار خپـل ببـل تشخص لري خو په هېوادني مسایلو کې له نورو وطنوالو سره اوږه په اوږه ولاړ وي.

یو مثال

په بي بي سي لندن کې د هندي خبرونو برنامه یـوه ځـانګړې برخـه هـم لري چې عنوان یې دی: د یوه سفر خبره

په ۱۳ نومبر ۲۰۰۳ کې په دې برخه کې یوه پېښه بیان شوه. د سمتي پور یوه اوسېدونکي، مشتاق صاحب وویل چې دی د خپلې خور لیدو ته کراچۍ ته لاړ. دا سفر ده په سپتمبر ۱۹۹۱ کې کړی و. هغه وویل چې زه له واګه سرحد نه په ریل ګاډي کې روان شوم. کله چې پاکستاني سرحد (اټاري) ته ورسېدو، نو ځینو مسافرو وویل چې د پاکستان اوسني وزیر اعظم نواز شریف اعلان کړی دی چې د هندوستان د مسافرو به ګمرکي چیک نه کېږي، په دې خبره زه ډېر زیات خوشاله شوم.

خو کله چې په یوولس سپتمبر ۱۹۹۱ د لاهور تمځای ته ورسېدو، نو خبره بالکل بل ډول وه. دلته د ګمرک دولتي چاوراکي په خلکو ور مات شول او ډېره سخته پلټنه یې پیل کړه. مشتاق صاحب پریشانه شو او یو څه یې وویل، نو د ګمرک یو کس ورباندې ببر شو. او په ډېره سپکه ژبه یې ورته وویل چې ته خو له قواري نه هندوستاني ښکاري. مشتاق صاحب د هغه د خبرې ځواب په دې ټکو کې ورکړ چې زموږ د هندوستانیانو له څېرو نه نور وریږي او ستاسې پاکستانیانو له څېر نه لعنت وریږي.

دا پېښه د هندوستان د عامو مسلمانانو جذبات راته ښیي. عام مسلمانان چې له هندوانو سره ګډ اوسي، د هغوی په زړونو کې د هندوستان په باره کې همدغه ډول جذبات دي. خو د مسلمانانو په نوم رهبرانو او په نوم ژورنالیزم خبره بیا دې نه مختلفه ده. د همدې خلکو هغه منفي لیکنې او منفي ویناوې هغه ستونزه پیدا کوي چې بیا یو سختدریځی هندو د دې خبرې فرصت پیدا کوي چې د هندوستان مسلمانان وطندوسته نه دي.

د خپل وطن د نورو مذاهبو له وګړو سره رویه

دوه کسان لیدو ته راغلي وو. دواړه مسلمانان وو، او په بریتانیا کې اوسېدل. په خبرو، خبرو کې مې هغوی ته وویل چې مسلمان باید له خپل وطن سره مینه ولري. د بریتانیا مسلمان له بریتانیا سره او د امریکا مسلمان له امریکا سره. هغوی وویل، خو که د هغه ځای خلک له موږ نه نفرت ولري، بیا هم موږ له هغوی سره مینه وکړو. ما ورته وویل، هو. بیا مې دا حدیث ورته ووایه:

لاتکونوا امعة، تقولون: ان أحسن الناس أحسنا، و ان ظلموا ظلمنا، ولکن وطنوا أنفسکم، ان أحسن الناس أن تحسنوا، و ان أساءوا فلا تظلموا (سنن الترمذی، حدیث ۲۰۰۷)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، تاسې اِمَّعه مه کېږئ، چې دا ووایئ چې که خلک راسره ښه رویه وکړي، موږ به هم ورسره ښه رویه کوو. او که خلک ظلم وکړي، نو موږ به هم ظلم ورسره کوو. بلکې خپل ځان دې سره عادت کړئ چې که خلک ښه رویه وکړي، بیا هم تاسې ښه رویه وکړئ او که هغوی بده رویه وکړي، نو تاسې ورسره ظلم ونه کړئ.

له دې نه معلومه شوه چې اسلامي اخلاق د tit for tat یا متقابل اخلاق نه دي. اسلامي اخلاق د یو طرفه ښې رویې په اصل بنا دي.

ریښتینې وطندوستي

ځینو خلکو سره مې ملاقات وشو. په خبرو کې د وطندوستي خبره راغله. دا سوال وشو چې ریښتینی وطندوست څوک دی او څنګه به یې پېژنو؟

ما ورنه وپوښتل، چې آیا تاسې پوهېږئ چې مور هم له خپل اولاد سره مینه لري، او تاجر هم له خپل مشتري سره مینه لري. دوی وویل هو، په دې خو ټول پوهېږي. بیا مې وپوښتل، آیا تاسې داسې مور پېژنئ چې د خپل اولاد په مینه کې یې ژړلي وي. هغوی وویل، داسې خو ټولې میندې دي. د هرې مور په بچي چې سختي راشي او مور یې خبره شي، نو خامخا به یې له سترګو اوښکې راوبهېږي. بیا مې وویل، ښه دا راته ووایئ چې ایا داسې کوم تاجر پېژنئ چې د خپل مشتري لپاره وژاړي؟ هغوی ځواب راکړ، چې داسې خو هېڅ تاجر مور ته نه دی معلوم.

ما وویل، اوس به زه خپل سوال بدل کړم او له تاسې پوښتنه کوم. تاسې ټول په ښلا ښلو ګوندونو پورې تعلق لرئ. د هر ګوند مشر د ځان په باره کې د هېواد دوستۍ دعوا کوي، ایا تاسې نه څوک راته ویلی شي چې د ګوند په رهبرانو کې یې کوم، کوم رهبر دی چې د وطن په حالاتو ژاړي. ټولو وویل، چې داسې خو هېڅ مشر مور ته نه دی معلوم. د وطندوستي دعوا خو ټول کوي، خو د وطن لپاره هېڅ څوک نه ژاړي.

بيا مې ورته وويل چې اوس زما پربکړه واورئ. هغه سړی چې د وطن په درد کې وژاړي، هغه ریښتونی وطندوست دی، او هغه چې یوازې د وطن په نوم ویناوې کوي، هغه مصنوعي وطندوست.

ملي شعور او د هېواد رغونه

د هېواد پیشرفت بلاشبه یوه برنامه غواړي. خو له طرحې نه مخکې هغه وګړي پکار دي، چې دغه برنامه د زړه له اخلاصه ور خپله کړي. اوسمهال په هندوانو او مسلمانانو کې دا شعور باید پیدا شي چې اختلافات په هره ټولنه کې همېشه موجود وي. مور باید د اختلاف او شکایت سره، سره یو بل سره ګډ ژوند کول زده کړو. زمور د هېواد د ربړې حل هماغه اصل ده چې ویلي یې دي چې اختلافي خبرې باید په سوله‌ییز ډول حل شي:

Peaceful resolution of conflicts

د دې هدف لپاره باید د ویښتابه زوروره برنامه (intensive awareness program) په لاره واچوو.

اتحاد او ایثار

د بهارت ویکاس پریشد په بلنه د راجستان په سفر تللی وم. دا یوه غیرسیاسي اداره ده. دا خلک له رغنیزو کارونو سره دلچپسي لري. د دوی شعار دی: د فرد رغونه د هېواد رغونه ده.

دلته په معلوماتي مرکز کې له زلمیانو سره زما لیدنه وه. د سر له ویناوو وروسته ماته د خبرو فرصت راکول شو. ما په خپلو خبرو کې وویل چې که په موږ کې دوه خبرې پیدا شي، نو د هېواد د پرمختګ مخه هېڅ څوک نه شي نیولی. نن ورځ دا حال دی چې خلک یوازې له هېواد نه په اخیستنې پوهېږي، هېواد ته ورکړه نه پېژني. دا مزاج نه یوازې د هېواد لپاره زیان رسوونکی دی، بلکې په اوږدمهالي ډول د وګړو لپاره هم د نقصان سبب دی. موږ باید دا وکړو چې د شخصي مفاد په مقابل کې د هېواد مفاد لوړ وساتو.

دوهم شی دا دی چې د دې هېواد په پرمختګ کې تر ټولو لوی خنډ د هندو-مسلم جګړه ده. دا جګړه سراسر په غلطپوهاوي ولاړه ده. د ایمرجنسي په زمانه کې چې هندوان او مسلمانان زندانونو ته واچول شوو او هلته یې له یو بل سره وخت تېر کړ، نو هر یوه محسوس کړه چې د یو بل په باره کې د دوی اندېښنې بې بنیاده وې. په هندوانو او مسلمانانو کې که په یوه طریقه اختلاط زیات شي، نو ټول غلطپوهاوي به پخپله ختم شي.

د یوه مشر ښارونه له خولې

زه نوې کلن یم، په دې لحاظ ما د ژوند اوږده تجربه مونډلې ده. زه د خپلې تجربې په رڼا کې ویلای شم چې د یوه هېواد د پرمختګ لپاره یوازې یوه عملي نمونه ده. هغه هماغه فطري نمونه ده، چې امریکایي

نمونه ورته ویل کېدی شي. امریکایي نمونه په ازاد رقابت ولاړه ده، یانې داسې ماحول پیدا کول چې د استعداد او معیار په بنیاد یو څوک پرمختګ وکړي، نه د امتیاز په بنیاد. د پرمختګ لپاره اصلي شی رقابت دی، نه امتیاز. د امریکا په هر ډګر کې دا اصول پلي دی چې رقابت او یا مرګ، یانې مبارزه وکړه او یا له منځه لاړ شه. په عامه ژبه کې ورته وکړه یا ومره (do or die) ویل کېږي.

د فطرت د قانون مطابق، په دې دنیا کې هېڅ ډله د امتیاز (favor) له لارې پرمختګ نه شي کولی، یوازې د رقابت له لارې د خپل اهلیت په ثابتولو بریالی کېدلی شي. همدا رقابت دی، چې بنده د انسان له سطحې نه لوړوي او سوپر انسان ورنه جوړوي، ځکه خالق دا دنیا د ننګونې - غبرګون (challenge-response) په اصول پنځولې ده. د فرد د پرمختګ یا د ټولنې د پیشرفت راز دا دی چې فطرت ته په ازاده د کار کولو فرصت ورکول شي. له دې پرته به بل هر اصول د انسان خودساخته اصول وي، چې هېڅ کله به کار ورنه کړي.

همدا د فطرت روش هم دی. د رقابت (competition) ماډل د هڅونې (motivating) ماډل دی، د دې بالعکس جواهر لال نهرو د روسیې ماډل غوره کړ، چې ده ورته سوشلسټ ماډل نوم ورکړی و. خو په عملي ډول دا ماډل، بې انګېزې کوونکی ماډل دی. اوس وخت راغلی دی چې مور هغه ماډل راخپل کړو، چې په هڅونې بنا دی، او هغه ماډل په بشپړ ډول پرېږدو، چې له عملي پلوه په بې انګېزه کوونکي ماډل بدلېږي. په هند

کې د امریکا پخواني سفیر جان ګالبریت (۱۹۰۸-۲۰۰۶) یو ځل په خپله یوه وینا کې ویلي و ـــــــــ هند یوه فعاله انارشي ده (India is a functioning anarchy). زه د هغه خبره د تنقید په ډول نه اخلم، بلکې د ننګونې په توګه یې اخلم، او دا دعا کوم چې هند یوه ایډیاله ډیموکراسي شي.

سوال او ځواب

سوال

تاسې دلیل راوړی چې هر پیغمبر د خپلې زمانې خلکو ته په خطاب کې «اې زما قومه» ویلي دي. یانې د حاضرینو عقیده یا مذهب دې مختلف هم وي، خو د یوې سیمې یا جغرافیوي وحدت د وګړو په حیث دوی یو قوم وو.

په دې اړه بنده د یو څو خبرو کولو جرأت کوي. قرآن خو ځای، ځای مؤمنان د **یایها الذین أمنو** (اې مؤمنانو) او کافران د **یایها الکفرون** (اې کافرانو) په ټکو یادوي. قرآن وایي چې آیا مؤمن او فاسق سره برابر کېدی شي؟ بیا قرآن پخپله ځواب ورکوي چې هېڅ کله نه (۳۲:۱۸) قرآن وایي چې ووایه: اې کافرانو! زه هغه نه لمانځم چې تاسې یې لمانځئ. او نه تاسې د هغه ذات لمنځونکي یاست چې زه یې لمانځم. او نه زه د هغه څه لمنځونکی یم چې تاسې لمانځلي دي. او نه تاسې د هغه ذات لمنځونکي یاست چې زه یې لمانځم. ستاسې دپاره خپل دین او زما دپاره خپل دین. (۱ – ۶: ۱۰۹)

قرآن وايي چې ايا مور به مسلمانان او مجرمين په يوه درجه کې درووو؟ په تاسې څه شوي دي څنګه غلط ګمان دی ستاسې (۳۵-۳۶: ٦٨) په قرآن کريم کې الله تعالی کافرانو ته **حزب‌الشيطن**ويلي دي او مؤمنانو ته **حزب‌الله** او د انعام زېرى ورکوي.

او د توبې په سوره کې اعلان کوي چې مشرکين نجس دي او دوی چې خپل ځان د کعبې متولي ګڼي، نو راروان کال ته يې د کعبې حرم ته نيږدې هم پرې نه ږدې (۹:۲۸) او هغوی چې ايمان نه راوړي، هغوی سره وجنګېږئ.

خو تاسې (مولانا) ياستئ چې په دې بې ګټې کوشش کې مو ځان لتاړ کړی چې کافران او مؤمنان يو قوم ثابت کړئ. (محمد صديق، اسلام آباد)

ځواب

۱- له قرآن کريم نه چې دا ثابت شي چې تېرو پيغمبرانو خپلو نامسلمانو مخاطبينو ته ويلي و چې «اې زما قومه» (۱۱:۸۹) نو همدا تګلاره به د رسول الله صلی الله عليه وسلم تګلاره هم وي، ځکه په قرآن کريم کې رسول الله ته ويل شوي دي چې ته هم هماغسې وکړه، چې تېرو پيغمبرانو کړي دي: **فبهداهم‌اقتده** (٦:۹۰) يانې، ته هم د دوی لاره ونيسه.

له روایاتو نه ثابتېږي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هم عملاً همدا کړي دي. د احد په غزوه کې مخالفينو په رسول الله د تيرې وار وکړ، چې

په مخ يې ولګېده او له مخ نه يې وينه راروانه شوه، په دې وخت کې رسول الله د تېرو پيغمبرانو په اُسوه عمل وکړ. عبدالله بن مسعود د دې پېښې په ترڅ کې فرمايي:

كأني أنظر الى رسول الله صلى الله عليه وسلم يحكي نبيا من الأنبياء، ضربه قومه وهو يمسح الدم عن وجهه ويقول: رب اغفر لقومي فانهم لا يعلمون (صحيح البخاري، حديث ٣٤٧٧؛ صحيح مسلم، حديث ١٧٩٢)

ژباړه: زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ګورم، له نبيانو څخه د يوه نبي حال يې بياناوه چې خپل قوم تپې کړی و. هغه له خپل مخ نه وينه پاکوله او دا يې ويل: اې الله! ته زما قوم ته بښنه وکړه ځکه دوی نه پوهېږي.

په دې برخه کې چې ما کوم څه ويلي دي، هغه په نص ولاړ دي. او تاسې چې څه ليکلي دي، هغه سراسر په قياس او استنباط بنا دی او دا واضحه خبره ده چې په قياس او استنباط د نص ترديد نه کېږي.

۲- په دې برخه کې ستاسې په څېر د خلکو مشکل دا دی چې تاسې انسانيت د تل لپاره په دوو ډلو وېشلی دی: مسلمان او کافر. د دې وېش له مخې ستاسې په نزد يوې خواته په ابدي معنا کې يو قوم مسلمان دی، او بلې خواته په ابدي معنا کې يو قوم نامسلمان ـــــ دا وېش سراسر غلط دی.

نه مسلمان د نسلي ډلې نوم دی او نه کافر نسلي ډله ده. د دواړو مدار یوازې په دې دی چې چا الهي معرفت موندلی دی او چا الهي معرفت نه دی موندلی. د همدې لپاره همېشه به داسې کېږي چې د مسلمانانو وروستني نسلونه به له اسلام نه لرې کېږي او له نامسلمانانو څخه به خلک حقیقت مومي او د الله تعالی اطاعت ته به غاړه ږدي.

د همدې لپاره دا بالکل فطري خبره ده چې د قومیت مدار په مذهب نه وي، بلکې په وطن باندې وي. ځکه د مذهب وېش همېشه بدلېږي، خو د وطن وېش عموما نه بدلېږي.

تاسې چې په خپل سوال کې کوم ایاتونه راوړي دي، د هغو د تفصیلي مطالعې لپاره زما تفسیر «تذکیر القرآن» او زما په کتاب «حکمتِ اسلام» کې د «کفر اور کافر کا مسئله» څېړکی وګورئ.

کفر، تکذیب

په قرآن کریم کې یو آیت په دې ټکو کې راغلی دی: **وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ** (۵:۱۰)

ژباړه: او هغوی چې کافر شوي او زموږ ایتونه یې دروغ ګڼلي، همدوی د دوزخ خلک دي.

په دغه ډول آیتونو کې له کفر او تکذیب بآیات الله نه څه مراد دی؟ د عامو تفسیرونو له مخې په دغه ډول آیتونو کې له کفر نه مراد دی د نبوت انکار. اوس سوال دا دی چې بیا د تکذیبِ آیات مطلب څه دی. په دې

خبره باندې په غور کولو معلومېږي چې په دواړو کې د يوه حقيقت دوه اړخونه بيان شوي دي. له کفر نه مراد دی، له نبوت نه د عقيدې په حيث انکار، له تکذيبِ آيات نه مراد دی، د دې مسئلې اړوند بيان شوي دلايل د خودساخته توجهياتو له امله د نه منلو وړ ګرځول.

مثلاً دا منل چې انبياء همېشه په بني اسرائيلو کې راغلي دي. د همدې لپاره په بني اسماعيل کې د پيغمبر راتلل د منلو وړ خبره نه ده. د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم چې مبعوث شو نو يهودو يې د ربښتوني نبي په حيث له منلو انکار وکړ. هغوی ويل چې د الله تعالی له لوري چې هر نبي راغلی دی، هغوی ټول په بني اسرائيل کې راغلي دي، يانې د يهودو په قبيله کې. خو عربي پيغمبر په بني اسماعيل کې پيدا شوی دی، او په بني اسرائيل پورې يې هېڅ تعلق نشته. د همدې لپاره دی برحق نبي نه شي کېدی.

همدغه راز د يهودو د دوديزې عقيدې له مخې، هدايت يو نسلي حقيقت و، يانې په يوه خاص نسل کې پيدا شوي سړي ته به هدايت ورکول کېده. د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم هدايت د يوه پيدايښتي شي په ځای د خپل شخصي انتخاب (choice) پديده وښودله. دا خبره هم د يهودو لپاره د خپلې دوديزې عقيدې له مخې د فهم وړ نه وه. له دې پلوه دوی په يوه وخت کې د دوو جرمونو مرتکب شوو: له نبوت نه د عقيدې په حيث انکار کول، او په دې اړوند بيان شوي دلايل نه منل. نو د دوی قضيه د کفر قضيه هم وه، د تکذيب قضيه هم. مسلمانانو دې ته

ورته غلطي دا وکړه چې هغوی رښتينولي خپلو مسلکونو او فرقو ته منسوبه کړه او په دې اړه يې له هر ډول دليل منلو نه انکار وکړ.

د خوږلنې ډېرښت

په ټايمز اف انډيا ورځپاڼه کې يوه سبق‌آموزه پېښه خپره شوې ده. د ايران پارسيان چې کله لومړی ځل هندوستان ته راغلل، نو د هندوستان په غربي ساحل کې کوز شول. په دې وخت کې يادَو رانا د ګجرات راجا و. د پارسي ډلې مشر له راجا سره وليدل او له هغه نه يې غوښتنه وکړه چې دوی ته په خپل رياست کې د استوګنې اجازه ورکړي. راجا د دې غوښتنې په ځواب کې د شيدو ډک ګيلاس د پارسي مشر په لاس کې ورکړ. د دې معنا دا وه چې زموږ رياست له مخکې نه له خلکو ډک دی. د نورو خلکو د استوګنې ګنجايش په کې نشته.

پارسي مشر په لفظونو کې راجا ته ځواب ورنه کړ. يوازې يې دومره وکړل چې يوه کاشوغه بوره يې په شيدو کې ګډه کړه او ګيلاس يې بېرته راجا ته ورکړ. دا د اشارې په ژبه کې د دې خبرې اظهار و چې موږ به په شيدو باندې د قبضې په ځای هغه در خوږې کړو، موږ به ستاسې د حکومت په ژوند کې شيريني در اضافه کړو. په دې ډول راجا هغوی ته په ګجرات کې د استوګنې اجازه ورکړه.

په دې واقعه باندې زر کاله اوښتي دي. تاريخ راته وايي چې د پارسيانو مشر چې کومه خبره کړې وه، هغه پارسي قوم رښتينې ثابته کړه. پارسيان

په دې هېواد کې د مطالبې، مظاهرې او مزاحمت له بیرغ سره نه دي راپورته شوي بلکې په خپلو خاموشو هڅو یې د دې هېواد په پرمختګ کې زیاتونه کړې ده. پارسیانو له نورو نه ډېره خواري وکړه. د تعلیم او تجارت او صنعت په برخه کې له نورو نه مخکې شول. د هېواد شتمنۍ او د هېواد پرمختګ ته یې وده ورکړه. په دې هېواد کې چې زیاتره خلک د اخیستونکې ډلې (taker group) په حیث مېشت دي، پارسیانو د خپل کار او زحمت له لارې خپل ځان ته د ورکوونکې ډلې (giver group) درجه حاصله کړې. همدا د ژوند راز دی. په دې دنیا کې د ورکړې خاوند یې لاسته راوړي. دلته هغه انسان د عزت مقام مومي چې د نورو خلکو په «شیدو» کې یې له خپل لوري «خوږلني» زیاته کړې وي. خو هغه خلک چې نورو ته د ورکړې لپاره یوازې تلخي لري، هغوی په دې دنیا کې هماغه څه مومي چې نورو ته یې ورکړي وي.

اســـــلامـــــي ژونـــــد

د سيرت په رڼا کې

د اخرت فکر لېوني کړي وو

حسن بصري تابعي ډېر لوی شمېر صحابه په خپلو سترګو ليدلي وو. هغه په خپله يوه وينا کې د خپلې زمانې خلکو ته وويل:

لقد ادركت سبعين بدريا. اكثر لباسهم الصوف، ولو رأيتموهم لقلتم مجانين. ولو رأوا خياركم لقالوا ما لهولاء من خلاق، ولو رأوا اشراركم لقالوا ما يومن هولاء بيوم الحساب. ولقد رأيت اقواما كانت الدنيا اهون على احدهم من التراب تحت قدميه.

ژباړه: ما اويا بدري صحابه ليدلي دي. د زياترو به يې لباس د وړيو و، که تاسې ليدلي واى نو ويل به مو چې دا خو لېوني دي. که هغوى ستاسې غوره خلک وګوري نو وبه وايي چې په دين کې د دوى هېڅ برخه نشته. او که ستا بدان وګوري نو وبه وايي چې دا خلک د حساب په ورځې ايمان نه لري. ما داسې خلک ليدلي دي چې دنيا ورته د پښو تر خاورو هم ډېره ناڅيزه او بې حقيقته وه.

تر ټولو ناوړی شی: ځان‌خوښونه

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: درې شيان نجات ښونکي دي او درې شيان هلاکوونکي. نجات ښونکي شيان دا دي: په پټه او ښکاره له الله نه وېره، په خوشالي او خفګان دواړو حالتونو کې حق خبره کول او په شتمني او نېستي دواړو حالتونو کې په اعتدال پاتې کېدل. هلاکوونکي شيان دا دي چې د خواهشاتو پيروي وشي، د بخيلي طريقه غوره کړای شي، او د بنده ځان‌خوښونه. او دا اخري شی تر ټولو ډېر سخت دی. (بيهقي)

د کمزورو په حق کې له اللَّه نه وېره

د بدر په جګړه (۶۲۴) کې د مشرکينو اويا تنه ونيول شوو، له هغوی نه د يوه نوم سهيل بن عمرو و. نبي صلی الله عليه وسلم ته وويل شو چې سهيل يو خولهور ويناوال دی، همېشه ستاسې په خلاف ويناوې کوي. د ده غاښونه ورمات کړئ. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «که زه د ده غاښونه ورمات کړم نو الله به زما غاښونه مات کړي، سره له دې چې زه پيغمبر هم يم.» (**سيرت ابن هشام**) د بدر بنديان رسول الله صلی الله عليه وسلم په مختلفو صحابوو ووېشل او لارښوونه يې ورته وکړه: **استوصوا بالاساری خيرا** (دې بنديانو سره ښه چلند کوئ) له دوی نه د يوه بندي ابوعزير بيان دی چې زه د انصارو په يوه کور کې وساتل شوم، هغوی به ماته سهار او مابنام ډوډۍ راکوله او پخپله به يې يوازې په کجورو

کوزاره کوله. د یمامه سردار ثُمامه بن اثال چې کله ونیول شو، نو تر څو پورې چې بندي و، د رسول الله د امر له مخې به غوره خواړه او شیدې ورکول کېدل.

د مؤمن هر وخت په یاد وي چې وروستی منزل یې قبر دی

ابونعیم د عروه په حواله راوړي دي، عمر رضي الله عنه یوه ورځ ابوعبیده رضي الله عنه ته راغی. ویې لیدل چې ابوعبیده د کجاوې په کلک ټغر پروت دی او د یوه غوټه بالښت یې ورته ایښی دی. عمر رضي الله عنه وویل: تا هغه څه نه دي کړي چې ستا ملګرو کړي دي. ابوعبیده رضي الله عنه وویل: اې امیرالمؤمنینه! همدا مې تر خپلې بسترې (قبر) پورې د رسولو لپاره کافي ده. (یاامیرالمؤمنین!هذایبلغنی المقبل، حلیةالاولیاء جلد ۱)

د اخرت د سختیو فکر د هر شي رغبت له منځه وړي

ابوالدرداء رضي الله عنه له اسلام نه مخکې تجارت کاوه. له اسلام نه وروسته تجارت ورنه پاتې شو. د ابن عساکر د یوه روایت له مخې ده وویل: په هغه ذات قسم چې د ابوالدرداء ځان یې په واک کې دی، اوس خو زه دا هم نه خوښوم چې د جومات په خوله کې مې دوکان وي، زما یو لمونځ دې هم له جمې پرته نه وي. زه دې هره ورځ څلوېښت دیناره کتیم او ټول دې د خدای په لاره کې صدقه کړم. وپوښتل شوو: اې ابو الدرداء! هغه څه دي چې له امله یې ته دا کار نه خوښوې. ځواب یې ورکړ: د حساب سختي (شدةالحساب، کنزالعمال، جلد ۲ صفحه ۱۴۹)

بنده اوږدمهاله طرحې جوړوي حال دا چې ژر مړ کېدونکی دی

ابونعيم له عبدالله بن ابوهذيل نه راوړي دي، هغه وايي چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چې کله خپل کور جوړ کړ، نو عمار بن ياسر رضي الله عنه ته يې وويل، راشه، وګوره چې ما څه جوړ کړي دي. عمار رضي الله عنه ورغی او کور ته يې وکتل، بيا يې وفرمايل: اميدونه دې لرې ترلې او مرګ دې درته نيږدې دی. (تامل بعيداوتموت قريبا، حلية الاولياء، جلد ۱ صفحه ۱۴۲)

اخرت نه مخکې دنيا کې انتقام

ابوفرات وايي چې د عثمان رضي الله عنه يو غلام و. يوه ورځ ده خپل غلام ته وويل، ما ستا غوږ دربانديې تاو کړی و، نو ته دې خپل غچ واخله. هغه د عثمان رض غوږ ونيوه. عثمان رض ورته وويل: اشدد (ښه کلک!)، څومره ښه ده چې په دنيا کې يې بدل واخيستل شي، او په اخرت کې د غچ لپاره هېڅ هم پاتې نه شي. (ياحبذا قصاص في الدنيا لا قصاص في الآخرة)

د مرګ په غاړه

د بلال بن رباح رضي الله عنه د مرګ وخت چې راغی، نو د کور ټول غړي يې راټول شوو او ويې ويل: واکرباه (وای غمه) بلال په ځواب کې ورته وويل: واطرباه، غدا القى الاحبة محمدو اصحبه (وای خوشالي! سبا به له خپلو ملګرو سره يو ځای شم، له محمد او صحابوو سره يې) د دويم خليفه عمر بن الخطاب رضي الله عنه د

مرګ وخت چې راغی نو له خولې یې ووتل: **ان نجوت کفافا لا وزر ولا اجراني لسعید**(که سر په سر خلاص شوم، چې نه سزا وي او نه انعام راکول شي، نو وبوله چې کامیاب شوم.)

تر ټولو ډېر د جهنم له عذاب نه د نجات فکر بویه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمنې ام حبیبة رضي الله عنه یوه ورځ په دې ټکو کې دعا وکړه:

اللهم امتعني بزوجي رسول الله وبابي سفیان وباخي معاویه(مسلم)

ژباړه: خدایه! زما د مېړه رسول الله او زما د پلار ابو سفیان او زما د ورور معاویه سیوری په ما دایم لره.

رسول الله چې واورېدل، ویې فرمایل: ام حبیبة! عمرونه خو ټول د خدای په نزد مقرر شوي دي. که دې دعا کوله نو د دوزخ له عذاب نه د نجات دعا به دې کړې وه.

د مؤمن د سترګو یخوالی دا دی چې اولاد یې دیندار وي

مقداد رضي الله عنه فرمایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دا حال و چې په یوه کور کې به یو د اسلام منونکی و، بل به ورنه انکاري و. یوه مسلمان به چې خپل پلار، خپل زوی یا خپل ورو د کفر په حالت کې لیده، نو ډېر سخت به ځوریده. د ده زړه چې الله د کوم ایمان لپاره پرانیستی و، د هغه له امله به د ده یقین و چې که د کورنۍ دا غړی یې په همدې حال پاتې شو نو هلاک به شي او د اور عذاب ته به داخل شي. د

همدې لپاره د خپلو خپلوانو په لیدو به یې سترګې نه یخیدې (وقد فتح الله قفل قلبه للایمان لیعلم انه قد هلک من دخل النار فلا تقر عینه، حلیة الاولیاء جلداول) د همدې خلکو په باره کې الله دا آیت نازل کړ:

رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا (الفرقان: ۷۴)

ژباړه: زموږ ربه! موږ ته له خپلو میرمنو او خپلخانو د سترګو یخوالی راکړه او موږ د متقیانو امامان وګرځوه.

د جنت حرص

طبراني او ابن عساکر له بشیر رضي الله عنه نه روایت کړی دی. هغه وایي چې د مکې مسلمانانو مدینې ته هجرت راوکړ. د دې ځای اوبه د دوی خوښې نه شوې. د بني غفار له یوه تن سره کوهي و چې بَیر رومه یې ورته ویل. د مهاجرینو د دې کوهي اوبه خوښې وې. د کوهي خاوند به یو مشک اوبه د یوه مُد (د صاع څلورمه) په بدل کې پلورلې. رسول الله صلی الله علیه وسلم دې سړي ته وویل: بعنیها بعین في الجنة (دا کوهي د جنت د یوې چینې په بدل کې راباندې وپلوره.) هغه سړي وویل، زما او زما د بچو لپاره له دې پرته بل کوم سبب نشته، نو ځکه یې په دې ډول نه شم درکولی. له دې پیښې عثمان رضي الله عنه خبر شو. هغه بئر رومه په ۳۵زره درهمه واخیست. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: اې د خدای رسوله! ایا د دې کوهي په بدل کې زما لپاره هم د جنت چینه شته؟ رسول الله وفرمایل، هو. حضرت عثمان هغه کوهي عامو مسلمانانو ته وقف کړ.

یوه ته برکت، بل ته بلا

عبدالرزاق د سعید بن مسیب په حواله راوړي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم حکیم بن حزام رضي الله عنه ته د حنین له غزوې وروسته یو څه ډالۍ ورکړه. حضرت حکیم رض ته هغه کمه ښکاره شوه. رسول الله بیا ورکړه. هغه وویل، اې د خدای رسوله! ستاسې کومه ډالۍ غوره وه؟ رسول الله وفرمایل، لومړنۍ. بیا یې وفرمایل:

یا حکیم بن حزام! ان هذا المال خضرة حلوة فمن اخذه بسخاوة نفس و حسن اکلة بورک له فیه و من اخذه باستشراف نفس و سواء اکلة لم یبارک له فیه و کان کالذی یاکل ولا یشبع. والید العلیا خیر من الید السفلی. قال ومنک یارسول الله قال ومني. (کنز العمال جلد ۳)

ژباړه: اې حکیمه! دا مال ښېرازه او خوږ دی. چا چې د زړه له سخاوت او په غوره ډول د خوړو لپاره ترلاسه کړ، نو ده لره به هغه مال برکتي شي. او چا چې د زړه په حرص ترلاسه کړ او په ناوړه ډول یې وخوړ، نو هغه مال به یې برکت ونه کړي. او دی به د هغه کس په څېر وي چې خوري یې خو مړښت نه لري. او پاسنی لاس له لاندیني لاس نه غوره دی. ویې پوښتل: ان که له تاسې یې هم اخلي، اې د خدای رسوله! ویې فرمایل: ان که له ما یې هم اخلي.

په دنيا کې جاه‌طلبي به په اخرت کې ذلت وي

بخاري له ابو مجلز نه روايت کړی دی. معاويه رض ووت او يوه ځای ته ورسېد چې عبدالله بن عامر رض او عبدالله بن زبير رض ناست وو. د حضرت معاويه رض په ليدو عبدالله بن عامر رض پاڅېد او عبدالله بن زبير ناست و. حضرت معاويه رض وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د چا چې دا خوښېږي چې د الله بندګان دې ورته ولاړ وي، نو هغه دې خپل ځان ته په جهنم کې ځای وګوري. (من سره ان يمثل له عباد الله قياما فليتبوأ بيتا من النار، الادب المفرد صفحه ۱۴۴)

د اخرت په خاطر دنيا پرېښودل

ابو نعيم د عبدالرحمن بن ابی ليلی په حواله راوړي دي، هغه وايي چې عمر رضي الله عنه ته د عراق ځينې وکړي راغلل. د خوړو وخت شو، نو عمر رض ته يوه لويه پياله راوړل شوه چې د ناچانې اوړو ډوډۍ او د زيتون تېل په کې وو، او دې خلکو ته يې وويل چې وخورئ. هغوی ورو، ورو ډېره کمه، کمه ور واخيسته. عمر رض وفرمايل: اې عراقيانو! زه مو وينم چې تاسې څه کوئ. واورئ! که زه وغواړم نو زما لپاره غوره او نرمه ډوډۍ تيارېدی شي، هغسې چې ستاسې لپاره تيارېږي. بيا يې وفرمايل:

ولكنا نستبقي من دنيانا نجده في آخرتنا. اما سمعتم الله عز وجل قال لقوم (اذهبتم طيباتكم في حياتكم الدنيا)

ژباړه: خو مور يې له خپلې دنيا نه ېچ کوو چې په اخرت کې راکول شي. ايا تاسې نه دي اوريدلي چې الله يوې ډلې ته فرمايلي دي: تاسې خپل ښه شيان په دنيوي ژوند کې ترلاسه کړي دي.

په يوه بل روايت کې دی چې عمر رض وفرمايل: تاسې څه غواړئ؟ ايا خوږ او نمکين او تود او يخ؟ هر څه چې وخورئ، په کښډه کې ورنه د ايستلو شی جوړيږي. (حلية الاولياء، جلد ۱)سائب بن يزيد وايي، ما څو ځله د شپې ډوډۍ عمر رضي الله عنه سره خوړلې ده. ده به معمولي ډوډۍ او ساده غوښه خوړله بيا به يې خپل لاسونه په خپلو پښو تېر کړل او فرمايل به يې: د عمر او د عمر د کورنۍ دستپاک همدا دی. (ياكل الخبز واللحم ثم يمسح يده على قدمه ثم يقول: هذا منديل عمر و آل عمر)

د دنيا په چارو کې بې غرضي

خرجه ابن ابی الدنيا من رواية محمد بن مهاجر عن يونس بن ميسرة قال: ليس الزهادة في الدنيا بتحريم الحلال ولا اضاعة المال ولكن الزهادة في الدنيا ان تكون بما في يد الله اوثق منك بما في يدك و ان تكون حالك في المصيبة حالك اذا لم تصب بها سواء و ان يكون مادحك و ذامك في الحق سواء. (جامع العلوم و الحكم صفحه ۲۵۴)

ژباړه: ابن ابي الدنيا د محمد بن مهاجر په حواله د يونس بن ميسر قول رانقل کړی دی، چې زهد دا نه دی چې حلال شيان حرام کړئ يا مال ضايع کړئ. بلکې زهد دا دی چې د خپل لاس له شتو نه ډېر اعتماد په هغه څه ولرئ چې الله سره دي. او په

مصیبت کې چې په تاسې کوم حال راځي، همدا حال هغه وخت هم وي چې مصیبت درباندې نه وي. او د حق په ځای کې ستایونکی او غندونکی دواړه ستاسې په نظر کې برابر وي.

خدای ته زموږ د زړه بې تابي مطلوب ده

عبدالله بن جدعان مشرک خو نېک‌زړی عرب و. دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت نه دمخه وفات شو. د جاهلیت په زمانه کې ده کې داسې کارونه کړي وو چې بالعموم د نېکو چارو له ډلې ګڼل کېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د هغه په باره کې وپوښتل چې ایا هغه ته به د خپلو نېکو اعمال اجر ورکول کېږي؟ رسول الله وفرمایل: د هغه له خولې هېڅ کله دا نه دي وتلي چې **اللهم اغفرلي**(اې الله ماته ببښنه وکړه). له دې نه ښکاري چې الله تعالی ته له خپلو بندګانو اصل شی چې مطلوب دی هغه دا دی چې په بنده کې د عاجزي کیفیت وي. او په ډېر شدت دا محسوس کړي چې د ټولو شیانو خاوند یوازې الله دی. د هغه په ورکړه یې مومو او که هغه یې رانه کړي، نو هېڅ هم نه شو موندلی. همدا حقیقت خپل زړه ته کوزول ایمان دی. څوک چې د موندنې دې مقام ته ونه رسېږي، د هغه ټول ژوند بې قیمته دی، حتی د هغه په ظاهره نېک اعمال هم. د الله په نزد هغه کار قبلېږي چې یوازې د هغه په خاطر شوی وي. مازې د انساني همدردي یا خلکو ته د خدمت د جذبې له مخې شوی کار الله ته خوښ نه دی. ځکه دغه ډول کار د بنده د خپلې لوبې د تسکین

لپاره وي، خو د خداى په دې دنيا کې له خداى پرته هېڅ څوک هم له لويي څخه برخمن نه دى.

اسلامي انقلاب د اسلامي خلکو له لارې راځي

د بدر په غزا کې يوه زړور مشرک له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره جګړې ته د تلو غوښتنه وکړه. خو رسول الله يې خبره ونه منله. رسول الله له هغه نه پوښتنه وکړه: ته په خداى او د هغه په رسول ايمان لرې. هغه وويل نه. رسول الله وفرمايل: زه له مشرک نه مرسته نه شم اخيستى. نو هغه د کلمې اقرار وکړ او د مسلمان په حيث يې په غزا کې ګډون وکړ ـــــ دا د اسلام د پيغمبر سياست و. خو په اوسنۍ زمانه کې د اسلامي سياست داسې رهبران پيدا شوي دي چې ټول انحصار يې د غيراسلامي ځواکونو په همکاري راټول وي. خو دوى ته د خپل سياست د غيراسلامي کېدو احساس يوازې هغه وخت کېږي چې کله د دوى په راوستي «انقلاب» غيراسلامي عناصر قبضه وکړي او دوى ته له چيغو او ويرې پرته بل هېڅ برخه ور پاتې نه شي.

هغه سترګې چې له عذاب نه به خوندي وي

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **عينان لا تمسهما النار، عين بكت من خشية الله و عين باتت تحرس في سبيل الله** (دوه سترګې دي چې د دوزخ اور به يې لمسې نه کړي، يو هغه سترګه چې د خداى له وېرې يې ژړلې وي، بله هغه سترګه چې د خداى په لاره کې يې د شپې څوکيداري کړې وي) تر کومه چې د خاشعو سترګو خبره

ده، نو د دې مفهوم همېشه او په هر حال کې همدا یو دی. د دې معنا به همېشه دا وي چې بنده د خدای په یاد کې داسې بې تابه شي چې له سترګو یې اوښکې راوبهېږي. خو د حارسه سترګو مفهوم ډېر پراخه دی. د اسلام د جغرافیوي سرحدونو حفاظت کول هم په کې داخل دی، دغه راز د یوه مؤمن بنده دا عمل هم په کې راځي چې دی د خدای په دین باندې د جاهلانه بریدونو په لیدو بې تابه شي او د دفاع لپاره یې په علمي چمتووالي باندې داسې لاس پورې کړی وي چې سترګې یې د کتابونو په مطالعه کې غرقې وي ــ د حق دین د دفاع لپاره یې سترګې د کتابځانو په الماریو کې د موادو په لټه پسې وي.

پای